د افغانستان اسلامي جمهوریت

د اقتصاد وزارت

# کونړونو ولایتي پروفایل

## اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته یوه کتنه



د کونړونو ولایت د اقتصاد ریاست

وری ۱۳۹۸



# دمطالبو لیکلړ


سریزه ........ ۱
مننلیک ........ ۲
د ښاغلي والي صاحب پيغام: ........ ۳
لنډيز ........ ٤
میتودولوژي(د جوړولو طريقه): ........ ٥
د دې سند پیژندنه: ........ ٦
**لومړی څپرکی ........ ۸**
د ولايت په اړه عمومي مالومات ........ ۸
ولايت د تاريخ په هنداره کې: ........ ۸
*نښارونه : ........ ۸*
د ولايت نوم او د نوم په اړه لنډ مالومات؛ ........ ۸
جغرافيايي موقعيت او موسم(د ولسواليو نومونه او د پولو په اړه مالومات)؛ ........ ۹
نفوس/اټول وګړي: ........ ۹
کونړ ولايت څلور خواوی: ........ ۹
کونړ ولايت قومونه : ........ ۹
کونړ ولايت اداري واحدونه: ........ ۱۰
تاريخي آثار ........ ۱۰
ودانۍ او د هغې ساختماني توکي ........ ۱۰
*دکونړونوولايت تاريخي ودانۍ اوتاريخي سيمې : ........ ۱۰*
*عمومي نفوس/وګړي: ........ ۱۱*
د سکټور پر بنسټ د وګړو د بوختيا تناسب( کرنه، صنعت، خدمتونه، توليد، ........ ۱۲
**دويم څپرکی ........ ۱٤**
۱ - د روغتيا سکټور ........ ۱٤
د سکټور په هکله لنډ مالومات: ........ ۱٤
روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ........ ۱٤
دولتي او خصوصي روغتونونه ........ ۱٥
د دولتي او خصوصي کلينيکونو پرتله کول ........ ۱٥
شته درملتونونه ........ ۱٥
روغتيايي متخصصين او مسلکي کسان ........ ۱٥
د روغتيا په برخه کې بوديجه او پانګونه ........ ۱٦
۲- د پوهنې سکټور ........ ۱٦
دولتي او خصوصي ښوونځي ........ ۱۷
دولتي او خصوصي پوهنتونونه ........ ۱۷
د زده کوونکو او ښوونکو تناسب او د ليک لوست کچه ........ ۱۷
د تحصيلي دورې او جنسيت پر اساس د ښوونکو شمير ........ ۱۹

زیربنا او بودیجه ........ ۱۹
د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو پوهنیزو ادارو پرتله کول ........ ۲۱
۳ - د زیربنا او طبیعي سرچینو سکټورونه........ ۲۱
سړکونو ته لاسرسی........ ۲۱
د ولایت هوایي ډګرونه او ټرانسپورټي سیستم ........ ۲۱
د ولایت برېښنا ........ ۲۲
*د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی........ ۲۲*
*په ولایت کې مالوماتي ټکنالوژي ........ ۲۲*
*صنعتي فابریکې........ ۲۳*
*د کانونو په برخه کې عایدات او بوختیا ........ ۲۳*
کلنی بودیجه او پانګونه........ ۲۵
٤- د کرنې سکټور........ ۲٦
څمکه او اوبه لګونه........ ۲٦
کرنیز محصولات........ ۲۷
*د کرنیزو او کلیوالي بنسټیزو محصولاتو ارزښت؛........ ۲۸*
*کار او کرنه........ ۲۹*
عایدات او پانګونه ........ ۲۹
۵- د اقتصاد سکټور او خصوصي سکټور پرمختیا ........ ۳۰
د بې وزلۍ وضعیت ........ ۳۱
کاري فرصتونه........ ۳۱
د خصوصي سکټور پانګونه........ ۳۱
اقتصادي وده او د خصوصي سکټور بودیجه ........ ۳۲
**درېیم څپرکی ........ ۳۳**
بودجه انکشافی ومصارف پروژه های انکشافی ولایت کنر به تفکیک سکتور........ ۳۳
معارف:........ ۳۳
*بودجه معارف ........ ۳۳*
زراعت........ ۳٤
*بودجه زراعت: ........ ۳۵*
تحصیلات عالی: ........ ۳٦
*بودجه تحصیلات عالی:........ ۳٦*
صحت عامه:........ ۳٦
*بودجه بخش صحت: ........ ۳٦*
انرژی و آب:........ ۳۷
*بودجه انرژی و آب: ........ ۳۷*
فواید عامه: ........ ۳۸
*بودجه فواید عامه:........ ۳۸*
پروژه های انکشاقی........ ۳۹

**څلورم څپرکی ........................................................................................................ ٤٢**

ټولنیز او سیاسي جوړښتونه ........................................................................................ ٤٢

*ټولنیز خوندیتوب ..............................................................................................* ٤٢

نادولتی موسسې/ادارې ........................................................................................ ٤٣

**پنځم څپرکی ........................................................................................................ ٤٥**

طرحی انکشافی زراعتی ولایت کنر ........................................................................................ ٤٥

برنامه انکشاف ماهی پروری ........................................................................................ ٤٧

**شپږم څپرکی ........................................................................................................ ٤٩**

د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ او د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (ANPDF/ NPPS)........................ ٤٩

د خصوصي سکتور د پراختیا پروګرام: ( سوداګریزي اسانتیاوي ، د واړه او منځ مهاله تجارت وده، د مخابراتي شبکو غزول) : .... ٤٩

د عوایدو ترلاسه کولو  او خلکو د اقتصاد د ودې په برخه کې د کرنې او کلیو پرمختیا د سکټور اهمیت : ........................ ٥٠

له کرنیزو او مالداري محصولاتو څخه د خلکو د کلني عوایدو اندازه: ........................................................ ٥٠

د خلکو د اقتصادي ودې په برخه کېد کرنیزو او مالداري فعالیتونو ونډه: ........................................................ ٥١

د خلکو د اقتصادي ودې په برخه کې د کلیو د بیارغونې فعالیتونو ونډه: ........................................................ ٥١

د ولسي تړون پروګرام؛ ........................................................................................ ٥٢

٥. د کرنې د پراختیا هراړخیز پروګرام؛ ........................................................................................ ٥٥

کرنیزې زیربناګانې: ........................................................................................ ٥٦

د ځنګلونو برخه کی موجوده امکانات : ........................................................................................ ٥٦

مصنوعی ځنګلونه ........................................................................................ ٥٧

د سیند اوبه: ........................................................................................ ٥٧

په کونړ ولایت کې د اوبو سرچینې: ........................................................................................ ٥٧

د حالت ارزونه: ........................................................................................ ٥٨

٧. د ښاري پراختیا پروګرام؛ ........................................................................................ ٥٩

د کلیوالي لارو جوړولو ملي پروګرام: ........................................................................................ ٦٠

٨. د انرژۍ پروګرام؛ ........................................................................................ ٦١

اوبه او برېښنا: ........................................................................................ ٦١

٩. د کانونو او طبیعې سرچینو د پراختیا ملي پروګرام؛ ........................................................................................ ٦٢

معادن: ........................................................................................ ٦٢

د معدنونو له استخراج څخه د کلني عوایدو اندازه: ........................................................................................ ٦٤

١٠. د بشري سرچینو د پراختیا پروګرام؛ ........................................................................................ ٦٤

د پوهنې ریاست: ........................................................................................ ٦٤

کارمونده: ........................................................................................ ٦٦

١١. د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام. ........................................................................................ ٦٦

**اووم څپرکي ........................................................................................................ ٦٩**

سروی وضعیت زنده گی  در افغانستان : ........................................................................................ ٦٩

وضعیت زنده گی مردم ولایت کنر به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ : ........................................................................................ ٦٩

*سروی وضعیت زنده گی  به سطح ملی : ........................................................................................ ٧١*

*گزیده شاخص های احصائیوی به سطح ملی :* ...................... *۷۳*
گزیده شاخص های احصائیوی وضعیت فقر و رفاه عامه ...................... ۷۴
**اتم خپرکی ...................... ۹۴**
د افغانستان د پایښت پرمختیا موخې...................... ۹۴
د افغانستان د پایښتي پرمختیا د موخو عمومي پیژندنه ...................... ۹۴
د پایښتي پراختیایي موخو(SDGs) لنډه پېژندنه ...................... ۹۴
د پایښتي پراختیایي موخو(SDGs) پروګرام لیدلوری ...................... ۹۴
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGS) د ملي کولو په برخه کې ...................... ۹۷
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGs) د مشرتابه او څارنې جوړښت: ...................... ۹۸
د افغانستان د پایښتي پراختیایي موخو(A-SDGs) کاري کمېټې او ډلې ...................... ۹۹
د بودیجوي نهادونو مسئولیتونه ...................... ۱۰۰
د پایښتي پراختیایي موخو د اغیزمن تطبیق په تړاو مشورتي غونډې کول؛ ...................... ۱۰۰
*په افغانستان کې د بنسټیزو پراختیایي موخو تارګېټونه او شاخصونه :* ...................... *۱۰۱*
سرچینې او مأخذونه ...................... ۱۲۳

# لنډیز (مخففات):

| | |
|---|---|
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| CSO | د مدني ټولني اداره |
| DDA | د ولسوالی پراختیایي شورا |
| GDDC | د طرحې او توحید عمومي ریاست |
| DGO | د ولسوالۍ مقام دفتر |
| ISLA | سیمه ییزه ادارو د پیاوړتیا نوښت |
| IDLG | د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره |
| INGO | نړیواله نادولتی موسسه |
| LoGo | سیمه ییزه حکومتوالي (هغه پروژه چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام -UNDP له خوا پلې کیږي) |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| PAP | کلنۍ ولایتي پلان |
| PBP | د ولایتي بودیجې پالیسي |
| PC | ولایتي شورا |
| PCM | د ولایتي شوراغړي |
| PCO | د ولایتي شورا دفتر |
| PDC | ولایتي پرمختیایي کمېټه |
| PDPG | د ولایتي پرمختیایي پلان جوړوني لاربنود |
| PGO | د ولایت مقام دفتر |
| PSP | ولایتي ستراتیژیک پلان |
| DoEc | ولایت د اقتصاد ریاست |
| PIMS | د ولایتي مالوماتو مدیریت سیستم |
| PTC | ولایتي تخنیکي کمېټه |
| PPFMC | د عامه مالي مدیریت ولایتي کمېټه |
| PSTC | د ولایتي سکټور تخنیکي کمېټه |
| PLMD | اړونده ولایتي ریاست |
| USAID | د متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره |
| WB | نړیوال بانک |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرا |

# سریزه



په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنګي، ټولنيزو او اقتصادي سرچينو ساتنې او پراختيا ته اړتيا لري تر څو وکړای شي د پراختيا بهير د هغه پر بنسټ عيار او همغږې کړي. د دې بهير د اړينو مسئلو له ډلې څخه د سوداګرۍ، ټرانزيټ، صنعت، لاسي صنايعو، داخلي توليداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختيايي سرچينې دي چې د کرنيزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټنشيلونو د ودې او پرمختيا لپاره لاره هواروي.

ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختيا بهير په منظمه او ښه توګه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساينې او پرمختګ په لوري ولېږدوي.

په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولګې يا ولايتي پروفايل شتون، د بشري ټولنې په بيلابيلو برخو په تيره بيا د پلان جوړونې او پاليسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړين ګڼل کيږي.

د اقتصاد وزارت وياړي چې د هیواد په کچه د یو ريښتيني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولایتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسۍ په برخه کې اسانتيا برابره کړې او د پلان جوړونکو، څيړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خيريه بنسټونو، زده کوونکو او ليکوالانو لپاره ولايتي پرمختيايي او اقتصادي معلوماتي ټولګه(پروفایل) جوړ کړي. دغه پروفایل د تخنيکي کميټې له خوا چې مرکزي او ولايتي مسلکي کارکوونکو په کې ګډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولايتي نهادونو په مرسته او همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کيږي.

ياد پروفايل تر ډيره بريده پر عامه هوساينې او د اقتصادي او ټولنيز حالت پر څرنګوالي، تاريخي قدامت، د پرمختيايي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زيربنا او نورو مهمو پرمختيايي مسايلو باندې تمرکز لري او په ټوليز ډول سره د ولايتونو اقتصادي او ټولنيز ليرليد لکه اقتصادي او ټولنيز ظرفيتونه، د اقتصادي ودې او پرمختيا په وړاندې ننګونې، د اقتصادي هوساينې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.

ولايتي پرمختيايي او اقتصادي مالوماتي ټولګه(پروفایل) مرسته کوي تر څو بوديجوي نهادونه، د پرمختيايي پلان جوړونې بهير د ولايت د اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو او لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم کړي او د نړيوالې ټولنې مالي مرستې د ولايت له اړتياوو او لومړيتوبونو سره همغږې کړي تر څو د ولايت په کچه د عامه هوساينې د سمون لپاره لاره هواره شي.

زه له دې فرصت څخه په ګټه اخيستنې د ولايتي پروفايل جوړولو د کميټې له غړو څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زيار ته د قدر په سترګه ګورم چې په دې کار کې ښکيل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**

**د اقتصاد وزير**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر گام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولگې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توگه، د پانگه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانگونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څیړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراگانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول گران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې گډون کړی وو او د سیمه ییزو ادارو د پیاوړتیا نووښت(ISLA) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه گڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین اود ښاغلی حسن خان "احمدزی" د کنر ولایت داقتصاد رییس ، څخه په ځانگړې توگه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاري کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنسټونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانگی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لگښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنگوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې گټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**

**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د ښاغلي والي صاحب پیغام:



د کونړ ولایت ستراتیژیک موقعیت ته په کتلو اړتیا لیدل کیږی چی اوږد مهاله پلانونه ولري او د دغو پلانونو پر بنسټ او پلي کولو سره به د کونړ ولایت په ټولو ملکي او نظامي چارو کی د پام وړ پرمختګ رامنځ ته شي ، کونړ ولایت د کرنیزو تولیداتو تر څنګ په ګڼو شنو او ښکلو ځنګلونو پوښل شوي دي.

هسکو غرونو او سپاندو سیندونو یي ښکلا یو په دوه کړي ده ، څرنګه چي یي د جهاد سنګر ، جرګو او مرکو د ټاټوبي لقب خپل کړي او همدا رنګه یي د پوهي په ډګر کي داسي بچي زیږولي دي ، افغانستان څه چي ټوله اسلامي نړۍ پري ویاړي او هغه هم علامه سید جمال الدین افغان او دي ته ورته نور نومیالي لري کونړ تل د خپلو ګاونډیو ولایتونو (ننګرهار ، نورستان او لغمان) او ګاونډي هیواد سره ښی اړیکي لرلي او هڅه یي دا ده چي دغه اړیکي همداسی ښي او ټینګي وساتي بل لور ته د ډیورنډ د فرضي کرښي هغي خوا پښتنو د بیلا بیلو قبیلو سره د پښتني کلتور او خپلوۍ اړیکي چي دغه اړیکي یي د پښتونولۍ له مخي پاللي دي اوهم یي پالي.

دا چي د پرمختیایي پلان د جوړوني لومړي مرحله د ولایتي پروفایل جوړونه ده ، چي د ولایت اوسني وضعیت په دري سکتورنو (امنیت،حکومتوالي د قانون حاکمیت او د بشر حقوق اقتصادي اوټولینیزي پراختیا) کي مونږ ته راڅرګندوي چي اوسني وضعیت پدي ولایتي پروفایل کي د دوامداره پرمختیایي موخو د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي او د ملي لومړیتوب لرونکي پروګرام پر بنسټ تحلیل شوي .

د ټاکل شوي ټیم په وسیله د ټولو ولایتي سکتورونو سره په هماهنګي د اوسني وضعیت ( امنیت ، ښي حکومت والي ، فساد ، جنډر ، ټولنیزي او اقتصادي پرمختیا) د ښه تحلیل لپاره مختلف مجلسونه او همغږي شوي دي.

باور لرم چي د اقتصاد ریاست او اړونده ادارو د هڅو په وسیله د کونړ ولایت انځور (پروفایل) په ښه ډول ښودل شوي دي او دا د هغو هڅو پایله ده چي مونږ ته به په ائینده کي د ستراتیژیک پلان او انکشافي پلان په جوړولو کي او همدارنګه د موسساتو سره د پروژو په تطبیق کي مرستندویه واقع شي .

خوښ یم چي د کونړ ولایت په کچه د اقتصاد وزارت او د (USAID-ISLA) برنامي په تخنیکي مرسته او د کونړ ولایت د ټولو دولتي او غیري دولتي ادارو ، خصوصي سکتور په همکاري ولایتي پروفایل ترتیب کیږي.

په پاي کي یو ځل بیا د اقتصاد ریاست او د (USAID-ISLA) برنامي د ولایتي ټیم څخه منندویه یم چي په مناسبه بڼه او ښه ډول یي ولایتي پروفایل ترتیب کړ.

او هم د دولتي او غیري دولتي ادارو څخه د ټولو ارقامو او د اړینو معلوماتو د راټولولو په برخه کي مننه کوو چي د پروفایل جوړوني په تمویل کي له مونږ سره د زړه له کومي همکاري کړي ده.

هیلمند یم چي په راتلونکي کي به د ولایتي پروفایل په نظر کي نیولو سره انکشافي پلانونه ترتیب شي تر څو د کونړ ولایت هر اړخیز پرمختګ ته زمینه برابره او چمتو شي .

**د کونړونو ولایت والی**
**عبدالستار (میرزکوال)**

## لنډیز

اقتصادي وده او د هیواد په کچه انډولیزه پراختیا د حکومت له اساسی لومړیتوبونو ګڼل کیږی. د یوی واقعی ملي اجنډا په توګه حکومت هڅه کړی څو د نړیوالی ټولنې په مالی او تخنیکی مرسته یادی موخی ته رسیدنه یقینی کړی. د تیری یوی نیمی لسیزی هڅو وروسته که څه هم په ډیری برخو د پرمختګونه تر سترګو کیږی اما لا هم ډیر څه ته اړتیا لیدل کیږی.

دا چې متوازن پرمختګ د واضحو تګلارو او مشخصو پالیسیو شتون لپاره اړین بلل کیږی او د تیرو څو کلونو تجاربو ښودلی چې پدی برخه کی د دقیقو احصائیوی ارقامو او کره معلوماتو نشتون په ملی کچه جدی ستونزه وه، په ځانګړي ډول د ولسوالیو او لری پرتو سیمو. اقتصاد وزارت د وظیفوي مسؤولیت له مخی تل هڅه کړی څو د مختلفو مراجعو ارقام جمعآوری او د پراختیائي ستراتیژیو په جوړولو کی ورڅخه ګټه پورته کړی. بی له شکه دقیقه احصائیه سربیره نه یواځی دا چی د سرچینو د بیځایه مصرف مخنیوی کوی بلکه د اقتصادی او پراختیائي برنامو د موثریت لامل ګرځی او همداراز متوازن پرمختګ یقینی کوي. د ارقامو او معلوماتو اهمیت ته په کتنه، پدی وروستیو کی اقتصاد وزارت ولایتی څانګو ته د ولایتی پروفایلونو جوړولو لارښوونه کړیده. ولایتی پروفایلونه به د سکتور په کچه تحلیلی ارقام او معلومات ولری څو پر مټ یی پالیسی سازی اداری د معلوماتی بستو (ډیټا بانک) په حیث د هغی څخه د پراختیائي پلانونو او برنامو په جوړولو کی کار واخلی.

د ننګرهار ولایت پروفایل د یوی مشورتی پروسی له لاری د ټولو ذیدخلو خواو سره په ګډه همغږی د سکتوری ادارو د ارقامو او معلوماتو په اساس جوړ شویدی. هڅه شویده څو د معتبرو دولتی اسنادو او مراجعو څخه دقیق او کره معلومات راجمع، تحلیل او په پروفایل کی ځای پر ځای شویدی. د هر سکتور تیر حالت ته لنډه کتنه شوی او فعلی وضعیت یی په ډیر ښه ډول تشریح شویدی. کرهنه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنۍ او سپورت سکتور، عامی روغتیا او تغذی، اقتصاد او خصوصي سکتور، د بنسټونو او طبعی زیرمو او ټولنیز خوندیتوب سکتورونه د عمومی جغرافیائي موقعیت او دیموګرافیک معلوماتو سربیره په دغه سند کی په کلی ډول ځیرل شویدی. تمه ده د ننګرهار ولایت اړونده اداری به د یاد پروفایل له معلوماتو څخه د اقتصادی او پراختیائی ستراتیژیو، برنامو او پروژو جوړولو په برخه کی ګټه واخلی.

# میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څېړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژی، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.

د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد  ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.

پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې  او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېړکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

## د دې سند پېژندنه:

دغه سند چې تاسي يې لولي د کونړونو ولايت ولايتي پروفيل نوميږي،چې د افغانستان لپاره د دوامدار پرمختيايي موخو ( SDGs) او د افغانستان دملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ANDS) او د ملي لومړتوب لرونکو پرو ګرامونو په چوکاټ کې د ولايت په کچه د دولتي او نادولتي ادارو (امنيت سکتور ، حکومتداري، خصوصي ،زراعت انکشاف دهات، پوهني ،زيربنا،صحت عامي سکتور،ټولنيز او خونديتوب سکتور) د راټول شوي ډېټا تحليل او څېړنه وړاندي کوي او مونږ ته د کونړ ولايت اوسني وضعيت په هر اړخيزه ډول راپيژني.

د ولايتي پروفايل د جوړوني څخه موخي د تمې وړ پايلې:

- د پرمختيايی سکټورونو په پام کې نيولو سره دپرمختيايي پاليسيو، پروګرامونو او پلانونو د طرح او ترتيب او د پرمختيايي فعاليتونو د اغيزمنتوب د تحليل لپاره واقعي شميرو او مالوماتو ته لاس رسي.
- د ذکر شوي ولايت په اړه د دقيقو مالوماتو د انعکاس لپاره، د يو روڼ او ځواب ويونکی ميکانيزم جوړول.
- دولايت داينده پرمختګ دپلان کولو په موخه د وګړو د شمير، جغرافيايي پراخوالي، ټولنيزو طبقو، تاريخې لرغونتوب، ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا، کلتور اوفرهنګ، اقتصادي بالقوه وړتياوو او د ولايت په کچه د نورو مهمو مسئلو په هکله د واقيعتونو پر بنسټ مالوماتو وړاندي کول .
- د ولايت د اوسني پرمختيايي حالت په هکله د خلکو د پوهې لوړول.

### ځانګرتياوي:

پدي سند کی د کونړونو ولايت اوسني وضعيت د افغانستان د سولې او پرمختيا ملی چوکاټ، او د ملي لومړيتوب پر بنست پروګرامونه (ANPDF) (NPPS) او د افغانستان د پايښت پراختيا (A-SDGs) موخو په اساس ښودل شوي دي.

ددي سند جوړښت:

دغه سند په څلورو عمده برخو ويشل شويدي :

لومړی: د ولايت پيژندنه:

دوهم: د ولايت د عمومي حالت تحليل:

دريم: د افغانستان د سولې او پرمختيا ملی چوکاټ، او د ملي لومړيتوب پر بنست پروګرامونه (ANPDF/ NPPs)

څلورم: د افغانستان د پايښت د دوامداره پراختيايی موخې(A-SDGs) (اوه لس موخې)

پوښتنليکونه او د موادو د راټولولو وسايل :

۱: د دولتي او غير دولتي ادارو د کارمندانو لپاره د هغو پوښتن پاڼو ډکول

۲: د ټولو سکتوري رياستونو سره د معلوماتو د راټولولو پخاطر د هغوي سره مخامخ ناسته(مجلسونه)

۳: د اقتصاد رياست(د ولايتی پرمختيايي کميټې(PDC) سکرټريت) ته داړوندو ادارو له خوا د پوښتنپاڼو سپارل اود پوښتن پاڼو په هکله داړتيا وړ رښا اچول او د پرمختيايي کميټې سکرټريت ته د ډکو شوو پوښتن پاڼو د سپارلومهال ويش.

د موادو د راټولولو ميتودونه:

- په دی هکله د دترتیب شوو پوښتینلیکونو مطابق دمعلوماتو راټولول
- د تثادفي مرکو تر سره کول.
- د داړتیا له مخی دځینو مشخصو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د مرکو ترسره کول .
- له ځینو بااعتباره اسنادو لکه د مرکزي احصایي ځیني چاپ شوي اسناد، د ځیني ادارو راپورونه او داسي نورو منابعو څخه هم کار اخیستل

**د موادو تحلیل:**

لومړي مرحله :پوښتونلیکونه ټولو سکتوري ریاستونو ته په مکتوبي او د ایمل له طریقه واستول شول او د توحید او کتني لپاره بیرته تر لاسه شو.

دوهمه مرحله : د معلوماتو په توحیدولو کي د نیمگړتیا په صورت کي د مربوطه مرجع سره مرکي تر سره شوي .

دریمه مرحله : د ټولو معلومات تکمیل او کره کتنه یي تر سره شوه

رهبري او تخنیکي همکاري :

ددغه ټول بهیر رهبري د اقتصاد وزارت /اقتصاد ریاست لخوا کیدله خو مسلکي او تخنیکي همکاری یي د اقتصاد ریاست دانکشافی کړنو دتظیم امریت کارمندانو او د (USAID-ISLA) برنامي د کارمندانو لخوا تر سره کیدله.

د موادو راټولولو ټیم:

د اقتصاد ریاست دانکشافی کړنو دتنظیم امریت کارمندان او د (USAID-ISLA) برنامي کارمندان.

# لومړی څپرکی

## د ولایت په اړه عمومي مالومات

### ولایت د تاریخ په هنداره کې:

د کونړونو ولایت د گران هیواد موجوده (٣٤) ولایاتونو له جملې څخه هغه ولایت دي چې د لمړي ځل لپاره د افغانستان د شاهي دولت په (١٣٤٢) لمریز کال کې یې د لوئي ولسوالي درجې څخه ولایت ته ارتقاء وکړه چې عبدالرحیم (ناصري) ئي د لمړني والي په حیث په دنده وگمارل شوو کله چې دشهیدسردارمحمدداؤدخان له خواپه هیوادکي سپینه کودتاوشوه اومرحوم دچارواگي په لاس کي واخیستي نوپه هیوادکي ئي دجمهوري حکومت دبره کینبوده نونوموړي په خپل دور دحکومت کي دکونړونوولایت بیرته دولایت له درجې څخه لوئي ولسوالۍ درجې ته ښکته کړ اوپه دغه وخت کي ئي حاجي محمد (څمکني ) ئي دحکمران په توگه راواستاوه چې بیرته ئي دکونړونوولایت په (١٣٥٤) لمریزکال کي د ولایت درجې ته پورته کړ اوپه دغه وخت کي دکونړونوولایت دمرکزاسعدآبادپه گډون په (٧) واحدونوویشل شوي وؤ چې عبارت دي له ( خاص کونړ، ځوکی، سرکانو، دره پیچ ، برکونړ(اسمار) ، کامدیش) ولسوالیوڅخه په اوس محال کي موجوده پاتي ولسوالۍ ئي علاقدارۍ وي چې دشهید سردارمحمدداؤدخان له شهادت وروسته دانقلاب په دورکي په ولسوالیوبدلی شوي دي چې اوس محال دمرکزپه شمول د(١٦) اداري واحدونودرلودونکي دي پاتی دی نوي چه دنورستان ولایت دجملی څخه شرقي نورستان اومرکزي نورستان هم مخکښی ددی ولایت برخی وی کله چې دنورستان ولایت دهیوادپه اداري واحدونوکښی زیات شونوپه همدی وخت کی دکامدیش ولسوالي دکونړولایت څخه جلا اودنورستان ولایت دولسوالیوله جملی څخه حسابیږي، داچې دي ولایت ته ولي دکونړونوولایت وائي ؟ یاد ولایت پخوا ددري کونړونودرلودونکي وؤ ( برکونړ یاآسمار، خاص کونړاوکوزکونړیاښیوه ) نوځکه ئي دکونړونوولایت نوم په ځان قبول کړي دي .

### ښارونه :

نیسا ښار، ننگرښار، داندراک ( انداک ) ښار او دچغسراي ښار.

### د ولایت نوم او د نوم په اړه لنډ مالومات؛

کنړونو ولایت د پخوانیو مؤرخانو په آثارو کی دکنر ، کنیر،کهوس، KHOES کانړ ، کونر ، KUNAR، کولو ، کنړ او یته یی ورته نورو نومونو یاد شوی دی . کنړ ( کونرKUNAR) له دوه کلیمو څخه جوړشوی دی چی دنورستانیانو اصطلاح یا لهجه ده او د نورستانیانو په ژبه اولهجه کی یی نو معنی د (ښوون دره او زیتون دره) افاده کوی . ددی نوم هم دنورو نورستانیانو کلیمو او نومونو په څیر چی نورو ژبو کی تغیر کوی ، نو دکوند(ر)په(ړ) بدله شویده او اوسمهال کونړ په کنړیا کنړونو شهرت پیداکړی دی اوهمدارنگه ځینی نور تاریخی اسنادو اوشواهدو داسی ښایی چی ډیرپخوا دکنړونو ولایت د غرونوڅخه نیولی دکنړ ترسیند پوری شاوخوا نیږدی سیمی پرگڼو ځنگلونو پوښل شویدی که څه هم دکنړونو ولایت ځنگلونو سروی، نښتر، ځوزی، کاچل، غوریجه، سراغذی، گورگوری، تیتاقی ، روړی، ممانی اود غرو په لمنو کی ښووان او غوراخکی. چی خلکو به په ابادی کی ډیر استعمالول. او همدارنگه په ځینی تاریخی اثارو کی دکنړ په اړه داسی څرگندونی هم شوی دی چی (کو) معنی اوبه او (نر) معنی دره چی جمله سره یو ځای کړو نو داوبو دره تری څرگندیږی، چی اوبه لو مثال دچترال څخه راغلی کنړ سیند کنړ سیند ، لنډی سیند او پیچ دری سیند چی دری واړو یو ځای دکنړونو

غیره نیولی چی پخوا وختونوکی تول کتابت او رسمی چاری په فارسی اودری ژبوترسره کیدی، نوځکه په مراسلانوکی ددی ودلایت نو په کونر او کنرها لیکل کیده، خو اوس دکونر(ر) دپښتوژبی په اصلی حرف (ړ) بدله شوی ده چی تولی رسمی چاری کی د(کنړ یا کنړونو) ولایت په نامه یی شهرت ترلاسه کړیدی.

پخوانیو مؤریخینو په آثارو کې کونړ ولایت د( کونړ، کنیر ، کهوس ، کونر، کولو، کنرها ، کونړونو، ښوونه ددرې او زیتونه ددرې ) په نوم یادشوی دی او په اوسني وخت کې په مراسلاتو کې په کونړ او کنرها سره یادیږي کونړ

## جغرافیایي موقعیت او موسم(د ولسواليو نومونه او د پولو په اړه مالومات)؛

د افغانستان له ٣٤ ولایتونو څخه یو ولایت دی چې د هیواد په ختیځه برخه کې موقعیت لري چې د یوې اوږدې لیکې غوندې د سهیل ختیځ هندوکش د سترو لړیو په منځ کې له شمال څخه سوېل لورته اوږد غځېدلی دی چې مساحت یې (٤٤٥٠) کیلو متره مربع دی .

## نفوس/ټول وګړي:

نفوس یي مرکزي احصاییي اداري سیستمونو او ارقامو پر اساس (٤٦٥٧٠٧) او د واکسینو اداري د سروې په اساس (٧٩٤٢٥٥) تنه اټکل شوی دی.




## کونړ ولایت څلور خواوی:

د کونړ ولایت شمال ته نورستان لویدیځ ته لغمان، سهیل ته یي ننګرهار او ختیځ خواته یي چترال، دیر ، مومند او باجوړ ضلعې پرتې دي.

## کونړ ولایت قومونه :

کونړ ولایت کې ټول (١٥) قومونه میشت دي چې عبارت دي له ( ساپي ، ماموند ، سالارزي، مشواڼي ، مومند ، دېګان، شینواري ، سادات، الکوزي ، ګوجر، پشه یي ، کوهستاني، نورستاني ، ګواري او کوچیانو ) څخه.

## کونړ ولایت اداري واحدونه:

کونړ ولایت کې ټول (٤٦) دوهمی بودیجوی واحدونه شتون لري چې ( ٣٤) يې ر یاستونه ، ( ٧) يې امریتونه او ( ٦ ) يې مديريتونه او چې اوس محال دمرکزپه شمول د(١٦) اداري واحدونودرلودونکي دی.

د ولایت د ولسوالیو او کلیو شمیر.

| دولسوالیو شمیر | دهري ولسوالی نوم : | دکلیو شمیر | دولسوالیو په پام کې نیولو سره د کلیو شمیر: |
|---|---|---|---|
| ١٥ | ولسوالی سرکاڼو<br>ولسوالی مروره<br>ولسوالی چپه دره<br>ولسوالی نورگل<br>ولسوالی خاص کونړ<br>ولسوالی دانگام<br>ولسوالی وټپور<br>ولسوالی خوکی<br>ولسوالیاسمار<br>ولسوالی ناړي<br>ولسوالی دره پیچ<br>ولسوالی غازی اباد<br>ولسوالی نرنگ<br>ولسوالی شلتن<br>ولسوالی شیگل | ١١٩٧ | ولسوالی سرکاڼو. قریه ٩٢<br>ولسوالی مروره. قریه ٦٣<br>ولسوالی چپه دره. قریه ٦٨<br>ولسوالی نورگل. قریه ٦۴<br>ولسوالی خاص کونړ.. قریه ۵٢<br>ولسوالی دانگام. قریه ۵٨<br>ولسوالی وټپور. قریه ٩٧<br>ولسوالی خوکی. قریه ٨٢<br>ولسوالیاسمار. قریه ٨۵<br>ولسوالی ناړي . قریه ٦٦<br>ولسوالی دره پیچ. قریه ١۵۴<br>ولسوالی غازی اباد . قریه ٩١<br>ولسوالی نرنگ . قریه ٩١<br>ولسوالی شلتن . قریه ٣٧<br>ولسوالی شیگل . قریه ۵٩ |

## تاریخي آثار

په کونړ ولایت کې مسکوکاټ په نامه تاریخي اثار لري

## ودانۍ او د هغي ساختماني توکي

### دکونړونوولایت تاريخي ودانۍ اوتاريخي سيمي :

١. په کونړ ولایت کې په مختلفوځایونو کې تاریخي وداني او تاریخي سیمي لري چي عبارت دي له:
٢. چغان تپه:چغان تپه په ١٣٨٤ کال کي د بانستان شناسي د هئیت لخوا سروي او تثبیت شویده
٣. نورگل مزاردري غونډۍ: د نورگل مزاردري غونډۍ په ١٣٨٤ کال کي د بانستان شناسي د هئیت لخوا سروي او تثبیت شویده.
٤. تیشي غر: د تیشي غر په ساحه کي پخواني دیوالونه لیدل شوي وو چي په طول د خو کلونو کي تخریب شویدي
٥. مروري غر:مروري غر په ساحه کي پخواني دیوالونه لیدل شوي وو چي په طول د خو کلونو کي تخریب شویدي
٦. برنرنگ قعلا:
٧. کوز نرنگ قعلا:
٨. د سرکاڼو قعلا:
٩. د خوکی ولسوالي د اندرلچک قعلا:

۱۰. خاص کنر پخه قعلا:

۱۱. ماڼوګي ولسوالي کې د شامول قعلا:

۱۲. خاص کنر ولسوالي کې د کلي ګرام قعلا:

۱۳. سرکاڼو ولسوالۍ کې د پشد قعلا:

۱۴. په سرکاڼو ولسوالي پشد کې د سید محبوب باچا قعلا:

۱۵. په شیګل ولسوالي کې د کنډرو قعلا:

۱۶. په وټه پور ولسوالي کې کټاړ قعلا:

۱۷. په وټه پور ولسوالي کې د شامیر کوټ قعلا:

۱۸. په مرکز کې د چغان غونډۍ قعلا:

۱۹. د کونړ ولایت روباطونه:

## عمومي نفوس/وګړي:

د نفوس په هکله مالومات:

نفوس يې مرکزي احصايي اداري ارقامو پر اساس (٤٦٥٧٠٦) او د واکسینو اداري د سروې په اساس (٧٩٤٢٥٥) تنه اټکل شوی دی.

- دولایت ټول وکړي: (٤٦٥٧٠٧) تنه دي :
- ښاري وکړي (١٤٦٠٧٠) تنه دي ، چې د ولایت د ټولووګړو(٪٣١ ) سلنه تشکیلوي.
- کلیوال وګړي(٤٥١٠٩٩) تنه دي ، چې دولایت د ټولووګړو(٪٩٦ ) سلنه تشکیلوي.
- کوچي وګړي(٢٠٣٦) تنه دي ، چې دولایت د ټولوکړو(٠,٤٣%) سلنه تشکیلوي.

د نفوس تناسب د نرانو او ښځو د شمېر په تفکیک سره؛



## د نفوس تناسب د نرانو او ښځو د شمېر په تفکیک سره




| | نارینه | ښځینه | مجموعی |
|---|---|---|---|
| د وګړو تعداد | 239320 | 226386 | 465706 |
| د فیصدي کچه | 51 | 49% | 100 |

د عمر په تناسب د کار ځواک شمېر اود جنسیت پر بنسټ د کار ځواک شمېر؛

## د عمر په تناسب د کار ځواک شمېر اود جنسیت پر بنسټ د کار ځواک شمېر




| | (60+) | (40-59) | (25-29) | (15-24) | دواړه جنس | مجموعي کچه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نارینه | 6 | 28 | 30 | 48 | 128 | 240 |
| ښځینه | 4 | 28 | 32 | 48 | 129 | 240 |
| دواړه جنس | 10 | 55 | 62 | 96 | 257 | 280 |

## د سکتور پر بنسټ د وګړو د بوختیا تناسب( کرنه، صنعت، خدمتونه، تولید، خصوصي سکتور او سوداګري، عامه اداره/دولت)؛

دکرنې په سکتورکې د بوختیا سلنه د جنسیت په پام کې نیولو سره د دې سکتورپر بنسټ عبارت ده له (نا رینه۸۰٪ اوښځینه ۹۰٪ په کرنه او مالداری مصروف دی).

په کنړ ولایت کې په عام ډول سره د تجاري فابریکي موجودي دي چې جمله (۳۷۱) مختلف النوعه فابریکي دي چې جمله (۱٤٦۲) کسان پکې پکار بوخت دي.

## د جنسیت په پام کي نیولوسره د خارجی موسساتو او داخلي موسساتو کارکونکي




| | داخلي موسسات | خارجي موسسات | مجموعي |
|---|---|---|---|
| ښځینه | 104 | 300 | 404 |
| نارینه | 253 | 669 | 922 |
| مجموعي | 357 | 969 | 1326 |

د نفوس سلنه د عمر د ډلو پر بنسټ(۰-۱۴ / ۱۵-٦٥ /تر ٦٥ کاله زیات عمر لرونکي).

## په لیک او لوست سنبال کاري ځواک



# دویم څپرکی

## ۱ - د روغتیا سکټور

### د سکټور په هکله لنډ مالومات:



د نواباد کلنیک د ډبری کیښودو مراسم

روغتیا د ټولو افغانانو لپاره یو ستر او اوږد مهاله هدف دی چې د نوي حکومت د جوړیدو له لومړیو ورځو څخه پرې تمرکز شویدی. او تر اوسه دا سکټور د میلیونونو ډالروپه پانګونې سره ښې لاسته راوړنې لرلې دي. د افغانستان ټولووګړو لپاره معیاری روغتیایي خدمتونوته لاسرسی لا اوس هم د حکومت د مهمو ارمانونو او اهدافو څخه دي.

د دې برخې د بشپړولو لپاره غوره ده چې د ولسوالیو په پام کې لرلوسره په ولایت کې د روغتیاد سکټور په حالت او روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته د لارسرسي په څرنګوالي تمرکزوشي. د روغتیا د سکټوردحالت، د بیرنیوروغتیایي خدمتونو دوړاندې کولو، د مزمنو ناروغیو دمخنیوي، او روغتیایي تجهیزاتو ته دلاس رسي او د لاندې یاد شویو نورو مواردو په اړه دقیق ارقام باید د اړوندو ادارو په مرسته چمتو او د ولایتی پروفایل په سند کې شامل شي.

### روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی

- بنسټیزو روغتیایي مرکزونو(BHC) ته د ښځو او نرانو لاسرسی؛

بنسټیز روغتیایي مرکزونه (BHCs) په کنړ ولایت (۱۷) شتون لري

- د ښځو او نارینو لپاره د بنسټیزو روغتیایي مرکزونو شمېر؛

په کنړ ولایت کې (۵) شفاخاني او (۹) کلینیکونه CHCs شتون لري

دجنسیت په پام کې نیولوسره (۸) زنانه متخصص ډاکټران او (۱۲) مردانه متخصص ډاکټران په کنړ ولایت کې لرو.

- د هر اړخیزو روغتیایي مرکزونو(CHC) شمېر.

هراړخیز روغتیایي مرکزونه(CHCs) په کنړ ولایت کې (۹) داني شتون لري .

## دولتي او خصوصي روغتونونه

- د روغتونونو او بسترو شمېر(د ښځو لپاره د شته بسترو شمېر)؛

ولایتی روغتون ۱ چه ۱۵۰ بسترو گنجایش لری

ولسوالی روغتون ۲ چه د ۲۰ بسترو گنجایش لری جمعا ٤۰ بستر

او ورسره د هر اړخیز روغتیا مرکزونه چه د ۱۰ بسترو گنجایش لری جمعا ۹۰ بستره جوړیږی چه مجموعا ۲۸۰ بستره جوړیږی.

- د دولتي روغتونونو شمېر؛

په کنړ ولایت کې (٥) دولتي روغتونونه شتون لري

- د ښځو او نرانو لپاره د خصوصي روغتونونو شمېر؛

په کنړ ولایت کې په (۱) خصوصی روغتونونه شتون لري

- د زېږنتونونو شمېر؛

په کنړ ولایت کې دوړو قابلو په واسطه (٦٦۳۰) زیږونونه ترسره شویدي چي د وروقابلو په واسطه نظارت شوي زيږونونه

په کنړ ولایت کې د زیږون نه مخکې(دحمل په وخت کې ) پالنې ته لاس رسی شته ددي چی (۲۲۷٦) کې شوي دي

- ۲٦٥ ناروغان په خصوصي روغتونونو کې په یوه میاشت کې تداوي شوي دي
- او په دولتي روغتونونو کې په کونړ ولایت کې په یوه میاشت کې ۳۰٤۱٦۹ ناروغان تداوي شوي دي

## د دولتي او خصوصي کلینیکونو پرتله کول

- په خصوصي کلینیکونو کې د ډاکټرانو تعداد ۷ دي
- په دولتي کلینیکونو کې د ډاکټرانو تعداد ۱۷۲ دي
- په خصوصي او دولتي کلینیکونو کې د ښځو او نرانو لپاره د خدمتونو د ارایې کیفیت ښه دي .

## شته درملتونونه

- د درملتونو/فارمسیو شمېر.

په کنړ ولایت کې خصوصي پانگونه کیږي چي د کنړ د عصري روغتون په نوم یادیږي او کلینیک او (۱٤۸) دواخاني په شخصي سکتور کې موجودي دي

## روغتیایي متخصصین او مسلکي کسان

- د جنسیت په پام کې نیولوسره د ډاکټرانو، متخصصینو، نرسانو او قابله گانو شمېر(نارینه او ښځینه)؛

زنانه داکتران ۹ ،زنانه متخصیصین ٥ او مردانه داکتران ۹۷ او متخصیصن ۱۸ چه جمله ۱۲۹

- د مسلکي قابلو په مرسته د زیږونونو شمېر؛

په کنړ ولایت کې دوړو قابلو په واسطه (٦٦٣٠) زیږونونه ترسره شویدي چي د وړوقابلو په واسطه نظارت شوي زیږونونه

- تر زیږون مخکې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی؛

په کنړ ولایت کې د زیږون نه مخکې(دحمل په وخت کې ) پالنې ته لاس رسی شته ددي چی (٢٢٧٦) کې شوي دي

- د میندو د مړینې کچه؛

په کنړ ولایت کې په کال کې دمیندو دمړینو اندازه (٠,٠١)٪ ته رسیږي

- د ماشومانو د مړینې کچه؛

په کنړ ولابت کې د ماشومانو دمړینې کلنۍ کچه (١,٩) ٪ کسانو ته رسیږي

- د خوارځواکۍ(سؤتغذي) کچه.

په کنړ ولایت کې د خوارځواکۍ کچه (١٢,٥)٪ ته رسیږي

## د روغتیا په برخه کې بودیجه او پانګونه

- په تیرو څلورو کلونو کې کومه بودیجه نده منظور شوي مگر په ١٣٩٦ کال کې(٧٥٦٢٩٢٥٨,٤)افغاني او (٣١٠٠٠) ډالر منظور شوي دي
- د روغتیا په برخه کې د خصوصي پانګونې کچه؛

په کنړ ولایت کې خصوصي پانګونه کیږي چي د کنړ د عصري روغتون په نوم یادیږي او کلینیک او (١٤٨) دواخانې په شخصي سکتور کې موجودي دي

- د روغتیاپه برخه کې د نادولتي مرستندویه موسسو او پرمختیایي شریکانو مرسته.

په کنړ ولایت کې د روغتیا په سکتور کې نا دولتی مرستندویه موسسې او پرمختیایي ګډونوال برخه لري چی عبارت دی له: PU-AMI , AHDS , WHO , DAO ، هدف ،یونسف، غیري دولتي موسسات کار کوي.

## ٢- د پوهنې سکټور

د پوهنې سکټور د افغانستان د دولت د مهمو سکټورونو او اصلی اهدافو څخه دی. دا سکټور په هیواد کې د کادرونو د ښوونې، زده کړې او روزنې په برخه کې فعالیت کوي او د هیواد په اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا او ودې باندې په مستقیم او غیر مستقیم ډول اغیزه لري.

## دولتي او خصوصي ښوونځي

د کونړ ولایت اړونده په ټولو ولسوالیو کی (۴۵۳) بابه ښوونځي موجود دی چی له دی جملې څخه(۲۵۸) لمړني ښوونځي،(۱۰۹) منځني ښوونځي ، (۸٦) لیسه ښوونځي شتون لري چی له دی جملی څخه یی (۸) بابه یی خصوصي دی

- د راجسټر شویو خصوصي ښونځیو(لومړنیو، منځنیو او لېسو) شمېر؛
- (۸) بابه یی خصوصي دي.
- د فعاله راجسټر شویو خصوصي ښونځیو(لومړنیو، منځنیو او لېسو) شمېر.

(۸) بابه یی خصوصي دي.



د پوهنی ریاست مربوط دګټو قلعه ښونځی

## دولتي او خصوصي پوهنتونونه

- د راجسټر شویو دولتي پوهنتونونو شمېر؛

په کونړ ولایت کې د سید جمال الدین افعان پوهنتون شتون لري او یو د حسابداري انستیټیوټ

- د فعاله دولتي پوهنتونونو شمېر؛

په کونړ ولایت کې د سید جمال الدین افعان پوهنتون شتون لري او یو د حسابداري انستیټیوټ

- د راجسټر شویو خصوصي پوهنتونونو شمېر؛

په کونړ ولایت کې راجسټر یو د تنویر خصوصي پوهنتون دي او یو المدینه طبی انستیټیوټ دي

- د فعاله راجسټر شویو خصوصي پوهنتونونو شمېر.

په کونړ ولایت کې فعال یو د تنویر خصوصي پوهنتون دي او یو المدینه طبی انستیټیوټ دي

## د زده کوونکو او ښوونکو تناسب او د لیک لوست کچه

- د هغه کسانو د لیک لوست کچه چې عمر يې له ۱۴ کلونو زیات دی(ټولټال/ښځنیه او نارینه)؛

په کنړ ولایت کې د ۱۴ کلونو څخه پورته په لیک او لوست د سنبالو کسانو له جملي څخه چي (۴۲) سلنه یي نارینه او (۹) سلنه یي ښځینه دي چي په مجموعي توګه (۵۱) سلنه په لیک او لوست بوخت دي

- تر ۱۵ کلونو لږ عمر لرونکو کسانو په ښوونځي کې د شاملیدلو کچه؛

په کنړ ولایت کي د ۱۵ کلونو څخه د کم عمره ماشومانو لپاره په مکتب کې د داخلیدلو په کچه ۸۵ سلنه ده چی ۳۸ سلنه یی نجوني دي په زده کړه بوخت دي.

- په ښوونځي(لومړني، منځني او لېسه) کې د هلکانو او نجونو د سوبتیا تناسب؛

د کنړ ولایت په ښونځیو(لومړنیو، منځنیو او لیسو) کې د زده کونکو (د جنکیو او هلکانو) د شتون نسبت په لاندي جدول کې په څرګند ډول بیان شویدي

| شماره | د کونړ ولایت د پوهنی ریاست د ۱۳۹٦ کال د دریمی ربعی د عمومی زده کړو د دورو په بنسټ د زده کوونکو شمیر: | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لمړنی دوره | لمړی ټولګی | | دوهم ټولګی | | دریم ټولګی | | خلورم ټولګی | | پنځم ټولګی | | شپږم ټولګی | | ټول | | |
| | | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | ټول |
| | | ۱۲۲٤۷ | ۸۳۰٦ | ۱۲۸۵۷ | ۸۷۸۹ | ۱۲۵۳۲ | ۸۷۵۸ | ۱۲۵۷۱ | ۸٤۲٤ | ۱۰۹۹۲ | ۷۳۲۹ | ۱۰۳۸۳ | ٦۸۰۷ | ۷۱۵۸۲ | ٤۸٤۱۳ | ۱۱۹۹۹۵ |
| ۲ | منځنی دوره | اووم ټولګی | | اتم ټولګی | | نهم ټولګی | | | | | | | | | | |
| | | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | | | | | | | هلکان | نجونی | ټول |
| | | ۸٤٤۳ | ۳۵۲۱ | ٦۰۵۷ | ۲۳۱۲ | ۵۳۲۸ | ۱۳۹۳ | | | | | | | ۱۹۸۲۸ | ۷۲۲٦ | ۲۷۰۵٤ |
| ۳ | ثانوی دوره | لسم ټولګی | | یوولسم ټولګی | | دولسم ټولګی | | | | | | | | | | |
| | | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | هلکان | نجونی | | | | | | | هلکان | نجونی | ټول |
| | | ٤٦۵۸ | ۸۳۷ | ۳۵۰۸ | ٦٤۲ | ۳۰۱۱ | ۵۳۳ | | | | | | | ۱۱۱۷۷ | ۲۰۱۲ | ۱۳۱۸۹ |
| ٤ | ټول | | | | | | | | | | | | | هلکان | نجونی | ټول |
| | | | | | | | | | | | | | | ۱۰۲۵۸۷ | ۵۷٦۵۱ | ۱٦۰۲۳۸ |

- د ښوونکو شمېر د جنډر په تفکیک سره؛

| د تحصیلي دورې او جنسیت پر اساس د ښوونکو شمیر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | د ښوونکو شمیر د جنسیت په تفکیک | | | | کتني |
| | نارینه | ښځینه | ټول | | |
| ۱ | ۳۸۰۳ | ۲۴۲ | ۴۰۴۵ | | |
| د تحصیلي دورې په اساس د ښوونکو شمیر | | | | | |
| ۲ | ماسټر | لسانس | ۱۴پاس | ۱۲پاس | له ۱۲ څخه ښکته |
| ټول | ۲۲ | ۴۱۱ | ۲۵۷۸ | ۱۰۰۲ | ۳۲ |
| | ۴۰۴۵ | | | | |

- د کونړ په ولایت کی د سید جمال الدین افغاني پوهنتون په نوم یو دولتي پوهنتون شتون لری

| د سید جمال الدین افغاني پوهنتون اړونده د استادانو او محصلینو معلوماتي لست | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پوهنتون نوم | د استادانو شمیر | | | | | | د محصلینو شمیر | | |
| | نارینه | ښځینه | لسانس | ماسټر | دوکتور | ټول | نارینه | ښځینه | ټول |
| د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون | ۸۱ | ۰ | ۵۴ | ۲۷ | ۰ | ۸۱ | ۲۹۶۲ | ۴۳ | ۳۰۰۵ |

د تحصیلي کچې (لیسانس، ماستری، دوکتورا) په پام کې نیولو سره د ښوونکو او پوهنتون د استادانو شمېر.

په کونړ ولایت کې په یوهنتونونو کې ۲۷ تنه ماستران لري او دوکتورا نلري

## زیربنا او بودیجه

- د هغو ښونځیو(لومړنیو، منځنیو او لېسو) شمېر چې ودانۍ لري؛

| شماره | ولسوالي | ټول ودانی لرونکی ښوونځي | لیسه ښوونځي | منځنی ښوونځی | لومړنی ښوونځی | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د عمومی زده کړو ودانیو لرونکو ښوونځیو شمیر | | | | | | |
| ۱ | اسعداباد | ۱۷ | ۷ | ۹ | ۱ | |
| ۲ | نرنگ | ۱۰ | ۷ | ۱ | ۲ | |
| ۳ | ځوکی | ۱۳ | ٤ | ۷ | ۲ | |
| ٤ | نورگل | ۹ | ۳ | ٦ | ۰ | |
| ٥ | خاصکونړ | ۱۲ | ۷ | ۳ | ۲ | |
| ٦ | سرکانو | ۱۸ | ۸ | ٥ | ٥ | |
| ۷ | مره وره | ۱۰ | ٤ | ۳ | ۳ | |
| ۸ | وټه پور | ۹ | ٦ | ۳ | ۰ | |
| ۹ | دره پیچ | ۱۳ | ٤ | ٦ | ۳ | |
| ۱۰ | چپه دره | ۸ | ۳ | ٤ | ۱ | |
| ۱۱ | شیگل | ۱٥ | ٦ | ٦ | ۳ | |
| ۱۲ | اسمار | ۱۱ | ٦ | ۲ | ۳ | |
| ۱۳ | دانگام | ۸ | ۳ | ٤ | ۱ | |
| ۱٤ | غازی اباد | ٥ | ۲ | ۱ | ۲ | |
| ۱٥ | ناړی | ۱۸ | ٤ | ٥ | ۹ | |
| | ټول | ۱۷٦ | ۷٤ | ٦٥ | ۳۷ | |

- په کونړ ولایت کي (۲٦۸) (لومړنیو، منځنیو او لېسو) ښوونځی ودانی نه لري؛
- د کنړ ولایت لړ ترلږه د تیرو پنځوکلونولپاره دپوهني د سکټور کلنی پرمختیایي بودیجه او د بودیجي لگښت په لاندي ډول دي

| شماره | تخصص | مصرف | باقیمانده | کتني |
|---|---|---|---|---|
| د پوهنی سکتور د تیرو پنځه کلونو بودجی جدول ۱۳۹٦ کال | | | | |
| ۱ | ٤۲۹٤۰۸۰۲۰,۸ | ٤۱۷٤۲۸۱۳٦ | ۱۱۹۷۹۸۸٥ | |

- د پوهني په برخه کي د خصوصي پانگونې کچه؛
- د پوهني په سکتور کي (۸) خصوصي مکتبونه لرو چي خصوصي پانگونه کوي
- د پوهني سکټور په برخه کې د نادولتي کوپراتیفي ادارو او پرمختیایي شریکانو مرسته.

د پوهني په برخه کي نا دولتي مرستندویه موسسې او پرمختیایي په لاندي ډول دي. د پوهني په سکتور کی اړونده همکاری موسیسی عبارت دي له یونیسیف،WFP،سویډن،NRC، ستاره عرفان ، ELA ،ADT،سیار،AWPOD او CREATIVE څخه دي.

## د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو پوهنیزو ادارو پرتله کول

- د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو روزنیزو یا پوهنیزو ادارو د زده کوونکو شمېر؛

په کونړ ولایت کي دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو روزنیزو یا پوهنیزو ادارو د زده کوونکو شمېر ۳۲۳۴۸۱ تنه دي ؛

- د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو روزنیزو یا پوهنیزو ادارو د ښوونې د کیفیت او اغیزمنتوب کچه.

په کونړ ولایت کي د دولتي او خصوصي ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو روزنیزو یا پوهنیزو ادارو د ښوونې د کیفیت او اغیزمنتوب کچه نسبتا ښه ده.

# ۳ - د زیربنا او طبیعي سرچینو سکتورونه

د یو هیواد د اقتصاد وده د اقتصادي بنسټونو لکه مخابراتي او مواصلاتي، صنعتی، دکانونو د را ایستلو او دانرژۍ د پرمختیا سره مستقیم تړاو لري. د لیږد رالیږد د سکتور بنسټونه د بدن د وینې دشیریان په شان د یوې ټولنې دژوند دکچې په لوړولو کې ارزښتناک نقش لري. لکه څنګه چې ویل شوی، "چیرې چې تلی نشی هغه ستاسو ندی". په ځانګړې توګه زموږ په هیواد کې د کرنیزو توکو د لیږد ګټه او زیان په مستقیم ډول د لیږد رالیږد حالت دځرنکوالې سره تړاو لري.

د انرژۍ صنعتونه او دکانونو را ایستل د بنسټونو سکټور یوه مهمه برخه ده چې د دوی څخه ګټه اخیستنه اړینه ده. د انرژي نه پرته صنعتي کیدل ناشوني دي او پرته له دې د خامو توکو په کار اچول نشي کیدای او په پایله کې د صنعتي کیدو پرته په ځان بسیاکیدل نه کیږي. نو ویلی شو چې زیربنا د یوې ټولنې دهوسا، سرلوړي او په ځان بسیا ژوند بنسټ جوړوي.

## سړکونو ته لاسرسی

- دکیلومترو په حساب د ښاري اوکلیوالو د سړکونو مجموعه د ښار دننه د ۲۷ کیلومټرو په اوږدوالي سړکونه ښاروالي ریاست مربوط شتون لري اوهغه سړکونه چې دفوایدعامی ریاست پوری مربوط دی جمله (۳۹۶)کیلومتره سرکونه لرو چې له دغه جملی څخه (۵۵)کیلومتره جغلی اوباقی یی قیر شوی دی
- دکیلو مترو په حساب ټول پاخه شوي اوپه جغل جوړشوي سړکونه: د ښاروالۍ د معلوماتو پر بنسټ، د ښار دننه د ۲۷ کیلومټرو په اوږدوالي سړکونه شتون لري چې یواځی ۱۲ کیلومتره یی اسفالټ شویده. دفوایدعامی ریاست پوری مربوط دی جمله (۳۹٦)کیلومتره سرکونو لرو چې له دغه جملی څخه (۵۵)کیلومتره جغلی اوباقی یی قیر شوی دی .

## د ولایت هوایي ډګرونه او ټرانسپورټي سیستم

- په کونړ ولایت کې هوایي ډګرونه شتون نلري ؛

- په کونړ ولایت کي هوايي ډګرونه شتون نلري مگر ځمکني ټرانسپورټ ته لاس رسي د ټرانسپورټ د اتحاديي او د شرکتونو له طريقه تر سره کيږي چي هډي هم د هغوي په لاس کي دي مگر د کرایه لایحه د ټرانسپورټ د امریت د پشنهاد او د ولایت مقام د حکم په اساس د تغین شوي کمیټي لخوا د کرایا لایحه ترتیب کیږي.

## د ولایت برېښنا

د کنړ ولایت د بریښنا ریاست د معلوماتو پر بنسټ، د اسدآباد د اوسیدونکو یواځی ۲۲٪ ښاري بریښنا(دولتي بریښنا) ته لاسرسی لري؛ د اسدآباد دښاروالی د معلوماتو پر بنسټ ۱۱٪ وګړي د شخصی جنراټورونو، ۱۷٪ د لمریزی انرژی د سیستمونو څخه ګټه اخلي او ۵۰٪ وګړي هیڅ ډول بریښنائیزی انرژی ته لاسرسی نلري. پدی ښار کی د بریښنا شتون ته ډیره اړتیا محسوسیږي. ولی د کنړ محترم اوسیدونکی په کلی صورت د برق انرژی څخه محروم دی. صرفد کنړ په مرکز کی یو څه تعداد دولتی ادارات او یو کم تعداد عامه وګړی چی مجموعاً ۸۸۹ نفر ته رسیږی په نوبتوار د برق انرژی څخه استفاده کوی.



د مرکز سیانس ودانی د جوړیدو په حال کی

### د ښښلو پاکو اوبو ته لاسرسی

- د کنړ ولایت د کلیو د بیارغونی او پراختیا ریاست د معلوماتو پر بنسټ، د اسدآباد دښار یواځی ۲۳٪ اوسیدونکي د ښښاک پاکو اوبو ته د نلونو او ژورو څاګانو له لاری چی ډیری شمیر یی د ملی پیوستون د پروګرام له لاری جوړی شوی لاسرسی لري. نور پاتی شمیر وګړي د سیندونو، کوچنیو نهرونو،ویالو له اوبو څخه او همدارنګه د سرخلاصه کیندل شویو څاګانو له اوبو څخه چی په شریکه د څو کورونو لخوا کیندل شوی او کارول کیږي، ګټه اخلي.

### په ولایت کي مالوماتي ټکنالوژي

- مخابراتی خدمتونواو مالوماتي تکنالوژۍ ته لاس رسي اوس مهال څلور مخابراتي کمپنۍ د اسدآباد د اوسیدونکو لپاره د ګرځنده ټیلیفونو(موبایل) چوپړتیاوی وړاندی کوي. دغه کمپنۍ عبارت دي له: افغان بیسیم، ام ټي ان(MTN)، روشن، ، اتصالاتو ، سلام او افغان ټیلی کام څخه.

## صنعتي فابریکې

- د تولیدي صنعتي فابریکو شمیر او د فعالیت ډول دکنړونو ولایت اړونده د مره وری ولسوالی په مربوطاتو کی دصنعتی منرال (مرمړبری) دپروسس لپاره یوه فابریکه شتون لری چه د فعلا لپاره کوم تولید او فعالیت نه کوی.
- پدی ولایت کی دخامو صنعتی منرالونو لپاره کوم پارک وجود نلری
- په زیربنایي سکټور کې د وګړو د بوختیا کچه٪٦٤ ده.

## د کانونو په برخه کې عایدات او بوختیا

- د ولایت په سطحه په قانونی ډول داستخراج شوو کانونو څخه په۱۳۹۱ مالی کال کی مبلغ ۲٤۱۳٥۰ افغانی عواید،۱۳۹۲ مالی کال کی مبلغ ۸۸۱٥٤۸ افغانۍ عواید،۱۳۹۳ مالی کال کی مبلغ ٥۲۲۳٤۳ افغانۍ عواید . ۱۳۹٤ مالی کال کی مبلغ ۲٦۸۰۸٦ افغانی عواید.۱۳۹٥مالی کال کی مبلغ ۷۲۹۰٦۹ افغانۍ او به ۱۳۹٦ مالی کال کی مبلغ ۱۳٦٥٦۸ افغانی عواید ترلاسه شوی.
- دکانونو په برخه کی دقراردادی اشخاصو او شرکتونو له لوری د ورکړل شوو راپورنی له مخی تر اوسه ۱٦٦ نفر په دنده ګمارل شوی.
- د هیواد څخه د باندې اویا نورو ولایتونو ته غوره تولیدي صادرات فعلا لپاره په عمده ډول خام صنعتی منرالونه خارجی هیوادونو او یاهم نورو ولایاتو ته نه صادریږی.
| ٤/٣ له دې څخه ډاډ حاصلول چې د ټولې ټول نارینه او ښځینه افراد با کیفیته، د تادیې وړ تخنیکي او مسلکي تعلیماتو، لوړو تحصیلاتو منجمله پوهنتون ته شامل شوي دي | ٤,٣,١ د ګډون میزان<br>الف. ځوانان (١٥-٢٤ کلن)<br>ب. لویان (٢٥-٦٤ کلن)<br>د (نارینه او ښځینه) جنسیت په تفکیک سره په زده کړو او د روزنې په رسمي برنامو کې په ١٢ وروستیو میاشتو کې | د تخنیکي او مسلکي زده کړو خپلواکه اداره |
| | ٤,٣,٢ د (١٥-٢٤ کلنو) د کسانو اشتراک میزان چې په تخنیکي او مسلکي روزنیزو برنامو کې اشتراک کړی وي د جنسیت په تفکیک سره.<br>الف.<br>ب. نارینه<br>ج. ښځینه | د تخنیکي او مسلکي زده کړو خپلواکه اداره |
| | ٤,٣,٣ د لوړو زده کړو موسساتو د جدید الشمولانو سلنه:<br>١. دولتي<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه<br>٢. خصوصي<br>الف. نارینه | د لوړو زده کړو وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| | ب. ښځینه | |
| | ٤،٣،٤ د هغو کسانو شمېر چې د نیمه دولتي او رسمي فني او حرفوي پروګرامونو څخه ګټه اخلي په تفکیک د:<br>١. نارینه<br>٢. ښځینه | د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت |
| ٤/٤ تر ٢٠٣٠ کال پورې د هغو ځوانانو او لویانو د شمېر ډېر زیاتوالی چې د بوختیا او کار موندنې (entrepreneurship) لپاره لازم تخنیکي او مسلکي مهارتونه و لري. | ٤/٤/١ د حرفوي او فني نیمه رسمي زده کړو پروګرامونو ته د هغو کسانو د لاسرسي سلنه چې د معلولیت ستونزه و لري. | د کار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت |
| ٤/٥ تر ٢٠٣٠ کال پورې، په روزنیزو پروګرامونو کې د جنسیتي تبعیض له منځه وړل او له دې څخه ډاډ تر لاسه کول چې د ښوونې او روزنې په ټولو سطحو د فني او حرفوي زده کړو بهیر ته د ټولنې د ټولو کسانولکه، معلولینو، کلیوالو او زیان منونکو ماشومانو په شمول د ټولنې د ټولو وګړو لپاره مساویانه لاسرسی موجود دی. | ٤/٥/١ د جنسیتي توازن نسبت:<br>١. ابتدائیه<br>٢. متوسطه<br>٣. لیسه | د پوهنې وزارت |
| | ٤/٥/٢ په لومړنی دوره کې د هغو زده کوونکو سلنه چې د تدریس ژبه یې خپله مورنی یا لومړنی ژبه وي. | د پوهنې وزارت |
| | ٤/٥/٣ د ټولنې محروم طبقو ته د سرچینو د تخصیص ځانګړې پالیسي | د پوهنې وزارت |
| | ٤/٥/٤ د هر شاګرد پر بنسټ د پوهنیزو لګښتونو اوسط:<br>الف. تعلیمي دوره،<br>١. ابتداییه،٢. متوسطه، ٣. لیسه<br>ب. د ناخالص داخلي تولید له عاید څخه د هر زده کوونکي په سر لګښت اوسط سلنه | د پوهنې وزارت |
| ٤/٦ تر ٢٠٣٠ کال پورې، له دې څخه ډاډ حاصلول چې ټول ځوانان او د پام وړ شمېر لویان (ښځې او نارینه) د لوستلو، لیکلو او حساب کولو لازم مهارتونه لري. | ٤/٦/١ د عمر په اساس د هغه مشخص نفوس سلنه چې لږ تر لږه د تعین شوي قابلیت کچه یې:<br>الف. سواد<br>ب. حساب<br>کسب کړې وي. د جنسیت په تفکیک سره (نارینه او ښځینه) | د پوهنې وزارت |
| | ٤/٦/٢ د کسانوتر منځ د سواد میزان:<br>الف. له ١٥ څخه تر ٢٤ کلنی پورې<br>١. مجموع<br>٢. نارینه<br>٣. ښځینه | د پوهنې وزارت |

| تارگیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| | ب. ۱۵ کلن یا له هغه څخه پورته<br>۱. مجموع<br>۲. ښځینه<br>۳. نارینه | |
| | **٤/٦/٣** د ګډون میزان<br>الف. ځوانان (۱۵-۲٤ کلن)<br>ب. لویان (۱۵ کلن یا له هغه څخه پورته)<br>د سواد زده کړې په برنامو کې | د پوهنې وزارت |
| ٤/۷ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د دې څخه ډاډ تر لاسه کول چې ټول زده کوونکي (Learners) د بنسټیزې انکشاف د ترویج لپاره د اړتیا وړ په لازمه پوهنه، مهارتونو او نورو ته په ښودلو سمبال شوي دي. همدارنګه د بنسټیزې پراختیا د مهارتونو د زده کړې له لارې يې د بنسټيز ژوند، بشري حقوق، جنسیتي برابري، د سولې د کلتور ترویج او عدم تاوتریخوالي، نړیوال ښاري سیستم او بنسټیزې پراختیا لپاره کلتوري او مشارکتي فرهنګ ته د احترام لارې چارې زده کړې دي. | ٤,۷,۱ هغه اسناد چې و ښيي:<br>(۱). د نړیوال ښاري سیستم د کلتور د لارو چارو زده کړه،<br>(۲). د بنسټیزې پراختیا د موضوعاتو زده کړه او په لاندې سطحو کې د جنسیتي تساوي او بشري حقوقو په شمول:<br>الف. د ښوونې او روزنې ملي پالیسي<br>ب. ښوونیز نصاب<br>ج. د ښوونکو روزنه او<br>د. د زده کوونکو ارزونه شامله ده | د پوهنې وزارت |
| | **٤,۷,۲** د هغو ښوونځیو سلنه چې له اېچ، آی وي څخه د ژغورنې اړوند مسایل د ژوند د مهارتونو په زده کړې ښیي. | د پوهنې وزارت |
| | **٤,۷,۳** په ملي کچه د بشر د حقوقو د زده کړې د نړیوالې برنامې د تطبیق د چوکاټ میزان:<br>الف. په نصاب کې شامل کېدل<br>ب. په ابتداییه، متوسطه او لیسه دوره کې د ښوونځیو زده کوونکو ته د بشر د حقوقو ښودل<br>ج. ښوونکو او کارمندانو ته د بشري حقوقو ښودل | د پوهنې وزارت |
| | **٤/۷/٤** د زده کوونکو سلنه په تفکیک د:<br>الف. تعلیمي دوره<br>ب. د عمر د ګروپ پر بنسټ چې د نړوال ښاري سیستم او بنسټیزې پراختیا په اړوند له مسایلو څخه کافي درک ولري. | د پوهنې وزارت |
| | **٤/۷/٥** د هغو ۱۵ کلنو زده کوونکو سلنه چې د چاپېریال پوهنې او ځمکپوهنې په اړوند پوهه او لازم مهارتونه و لري | د پوهنې وزارت |
| | **٤.الف.۱** د هغو ښوونځیو سلنه چې لاندې امکانات او سهولتونه و لري: | د پوهنې وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| **٤.الف** د ټولو لپاره د داسې ښوونیزو زیربناوو جوړول چې مناسبې وي، د جندر په نظر کې نیولو  سره د ماشومانو او معلولو کسانو د اړتیا وړ سهولتونه و لري. همدارنګه د زده کړې او یادولو داسې اغیزمن او مصؤن ځای چې له تاوتریخوالي څخه خالي وي. | الف. برېښنا<br>ب. د تعلیمي مقاصدو لپاره انټرنټ<br>پ. د کمپیوټر لابراتوار<br>ت. معلولو زده کوونکو ته تسهیلات<br>ث. د صحي اوبو او وینځلو آسانتیاوې<br>ج. ښځینه وو ته بېل تشنابونه<br>چ. مناسبه ودانی | |
| | **٤.الف.٢** د هغو زده کوونکو سلنه چې د آزار، ځورونې، تاوتریخوالي، وهلو، تبعیض او جنسي ناوړه ګټې اخیستنې تر مواردو لاندې راغلي وي. | د پوهنې وزارت |
| | **٤.الف.٣** په ښوونځیو، زده کوونکو او کارمندانو باندې د بریدونو څرنګوالی او شمېر. | د پوهنې وزارت |
| **٤.ب** تر  ٢٠٣٠ کال پورې، د مسلکي، تخنیکي، معلوماتي ټکنالوجۍ، انجنیري، ساینس او داسې نورو برنامو په شمول د لوړو زده کړو لپاره په لوی شمېر د نړیوالو تحصیلي بورسونو تامین او پراختیا. | **٤.ب.٢** د هېواد څخه بهر د لوړو زده کړو د بورسونو شمېر په تفکیک د:<br>**١.** د لیسانس بورسونه<br>**٢.** د ماستری بورسونه<br>**٣.** د دکتورا بورسونه | د لوړو زده کړو وزارت |
| **٤.ج** تر  ٢٠٣٠ کال پورې، د ښوونکو د روزنې د پروګرام او نړیوالو همکاریو له لارې ټولنې ته د لایقو او وړ استادانو د شمېر زیاتوالی او عرضه کول. | **٤.ج.١** په لاندې دورو کې د ښوونکو سلنه:<br>الف. له ښوونځي څخه مخکې تعلیمات<br>ب. ابتداییه<br>ج. متوسطه<br>د. لیسه<br>چې لږ تر لږه د ښونکو د روزنې پروګرامونه یې اخیستې وي (لکه له خدمت څخه مخکې او په داخل د خدمت کې یې میتودیکې زده کړې کړې وي) د جنسیت په تفکیک سره (نارینه او ښځینه) | د پوهنې وزارت |
| | **٤.ج.٢** د دورې پر بنسټ د زده کوونکي نسبت پر روزل شوي ښوونکي:<br>١. ابتداییه<br>٢. متوسطه<br>٣. لیسه | د پوهنې وزارت |
| | **٤.ج.٣** د دورې پر بنسټ د تعین شوو معیارونو سره سم د مسلکي ښوونکو سلنه:<br>١. ابتداییه<br>٢. متوسطه<br>٣. لیسه | د پوهنې وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| | ٤.ج.٤ د دورې پر بنسټ د زده کوونکي نسبت پر مسلکي ښوونکي:<br>١. ابتداییه<br>٢. متوسطه<br>٣. لیسه | د پوهنې وزارت |
| | ٤.ج.٥ د ښوونکي د تنخوا اوسط د نورو هغو دندو په پرتله چې مشابه وړتیاوې و لري. | د پوهنې وزارت |
| | ٤.ج.٦ د ښونکې په توګه د د ندې د پرېښودلو او تقاعد سلنه | د پوهنې وزارت |
| | ٤.ج.٧ د هغو ښوونکو سلنه چې په تېرو ١٢ میاشتو کې یې د داخل خدمت دوره سپرې کړې وي. | د پوهنې وزارت |
| پنځمه موخه: جنیستي تساوي ته لاسرسی او د ټولو ښځو او نجونو ځواکمن کول | | |
| ٥/١ په ټولو ځایونو کې د ښځو او نجونو په وړاندې د هر ډول تبعیض محول کول. | ٥/١/١ د جنسیت پر بنسټ د مساواتو او عدم تبعیض په هکله د قانوني چوکاټ د جوړښت، ځواکمنتیا، تطبیق او نظات د مسایلو له سلنې ځخه ډاډ (قوانین، مقرارات، کنوانسیونونه او پیغامونه) | د ښځو چارو وزارت |
| ٥/٢ په عامه او خصوصي محلاتو کې د ښځو او نجونو په وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي محوه کول لکه قاچاق، ناوړه جنسي ګټه اخیستنه او داسې نور. | ٥/٢/١ د هغو ښځو سلنه چې له ١٥ کلونو ځخه زیات عمر لري او د تېرو ١٢ میاشتو په جریان کې د خپل خاوند له لوري د فزیکي، جنسي یا رواني تاوتریخوالي سره مخ شوې وي. | د ښځو چارو وزارت |
| | ٥/٢/٢ د هغو ښځو سلنه چې له ١٥ کلونو ځخه زیات عمر لري او د تېرو ١٢ میاشتو په جریان کې له خاوند پرته د پردي شخص له لوري د فزیکي، جنسي ناوړه ګټې اخیستنې یا رواني تاوتریخوالي سره مخ شوې وي. | د ښځو چارو وزارت |
| ٥/٣ د ټولو زیان رسوونکو رواجونو محو کول لکه د ماشومانو، تنکیو نجونو او په اجباري توګه ودونه. | ٥/٣/١ د هغو ښځو سلنه چې له ١٥ ځخه تر ١٩ کلنۍ پورې عمر و لري او واده یې کړې وي. | د ښځو چارو وزارت |
| ٥/٤ د مجاني چارو او له مزد پرته کارونو تشخیص او هغه ته ارزښت ورکول. دا کار باید د عامه خدماتو د وړاندې کولو، بنیادي چارو، د ټولنیز مصؤنیت د سیاستونو، د ملي باورونو د هینداري له مخې په کورنۍ او فامیل کې د ګډ مسوولیت منلو له لارې تر سره شي. | ٥/٤/١ په تفکیک: له مزد پرته د کورنیو او پرستارۍ چارو په اړوند د مصرف شوي وخت سلنه په تفکیک د:<br>١. مجموع<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |

| تارگيټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| ۵/۵ په ټولنيزو چارو کې د ښځو د فعال، اغیزمن او بشپړ مشارکت څخه ډاډ حاصلول او همدارنګه په عامه ژوند، سياسي او اقتصادي چارو کې د تصميم نيولو او رهبري په سطحو کې ښځينه وو ته د مساوري فرصتونو برابرول. | ۵/۵/۱ د ملي شورا په مجلسينو (ولسي جرگه او مشرانو جرگه) کې د ښځو په وسیله د اختصاصي او گټل شوو چوکيو سلنه | د ښځو چارو وزارت |
| | ۵/۵/۲ په مديريتي موقفونو کې د ښځو سلنه | د ښځو چارو وزارت |
| ۰.۵ د ښځو د ځواکمن کولو لپاره هغوی ته د ځواکمن جوړونکي معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ ICT څخه د استفادې ډېروالی | **۵.ب.۱** د نفوس د هغه برخې تناسب چې مبایل تیلفون لري په تفکیک د:<br>۱. نارينه<br>۲. ښځينه | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت |
| شپږمه موخه: د ټولو لپاره پاکو اوبو او حفظ الصحې ته د بنسټيزې لاسرسۍ او مديريت څخه د ډاډ حاصلول | | |
| ٦/۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د توان سره سم د بيې په مقابل کې د ټولو لپاره په مساويانه او مصؤون ډول د څښلو اوبو ته لاسرسی | **٦/۱/۱** د نفوس د هغې برخې سلنه چې د څښلو پاکو اوبو مديريت شوو خدمتونو ته د مصووني استفادې لپاره لاسرسی لري په تفکیک د:<br>۱. مجموع<br>الف. ښاري<br>ب. کلیوالي | د کليو د احيا کولو او پراختيا وزارت |
| ٦/۲ تر ۲۰۳۰ کال پورې، مناسبې حفظ الصحې او پاکوالي ته د ټولو وګړو داسې لاسرسی چې د ښځو، نجونو او زيان منونکو طبقاتو ته اړتیاوو ته يې ځانګړې پاملرنه کړې وي او په آزاده فضا کې يې د ځواب چې يا رفع حاجت ناوړه دود محوه کړی وي. | **٦/۲/۱** د نفوس هغه سلنه چې د حفظ الصحې د مديريت شوو او مصؤونو خدمتونو څخه ګټه اخلي. په تفکیک د:<br>۱. مجموع<br>الف. ښاري<br>ب. کلیوالي | د کليو د احيا کولو او پراختيا وزارت |
| | **٦/۲/۲** د نفوس د هغې برخې سلنه چې د صابون او اوبو په وسيله د لاسونو د مينځلو آسانتيا ته لاسرسی لري په تفکیک د:<br>۱. مجموع<br>الف. شهري<br>ب. دهاتي | د کليو د احيا کولو او پراختيا وزارت |
| | **٦/۲/۳** د نفوس د هغې برخې سلنه چې د رفع حاجت لپاره له پرانيستې فضا څخه ګټه اخلي په تفکیک د:<br>۱. مجموع<br>الف. ښاري<br>ب. کلیوالي | د کليو د احيا کولو او پراختيا وزارت |
| ٦/۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې د چټليو د کموالي په وسيله يې د اوبو د کيفيت پاکوالي رامنځته کړی وي، د چټليو زېرمې (dumping) يې له منځه وړې وي، خطرناک کېمياوي مواد يې کم کړي وي، د چټلو اوبو تصفيه يې | **٦/۳/۱** په مصوونه او مديريت شوې توګه (safely treated) د کورونو د فاضلابو فيصدي (کورنۍ او ټول اقتصادي فعاليتونه)<br>۱. ښاري | د ښار جوړولو او مسکن وزارت |

| تارگیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| نیمايي کړي وي او د هغه بدلولو (recycle) او بیا استفادې (reuse) لپاره يې د پام وړ زمینه برابره کړې وي. | | |
| ٦/٤ تر ۲۰۳۰ کال پورې په ټولو سکتورونو کې د اوبو د سرچینو د اغېزمنتوب زیاتول او د هغه د بنسټیزو وتلو (withdrawal) څخه اطمینان حاصلول، د اوبو د کموالي د ستونزې رفع کول او د هغو د خلکو په شمېر کې د پام وړ کموالی راوستل چې د اوبو له کموالي څخه رنځ وړي. | ٦/٤/١ د وخت په تېرېدو سره له اوبو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې د بدلون میزان:<br>١- د انرژۍ سکتور<br>٢- د کرنې سکتور<br>٣- د صنعت سکتور<br>٤- ښاري سکتور | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| | ٦/٤/٢ د کال په حساب په هر متر مکعب اوبو کې د سرانه لګښت لپاره د اوبیزه زېرمو د ظرفیت لوړول. | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| ٦/٥ تر ۲۰۳۰ کال پورې په ټولو سحطو کې حتی د بیرون مرزي متقابلو همکاریو په شمول د اوبو په اړوند د هراړخیز داخلي مدیریت تطبیق | ٦/٥/١ د اوبو د سرچینو د هراړخیز مدیریت د تطبیق درجه (IWRM) له صفر څخه سلو ته رسول. | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| | ٦,٥,٢ له سرحد څخه د وتونکو اوبو د چارو په هکله د هملند د سیند د پرېکړې تطبیق او مشابه تفاهم لیکونو رامنځته کول | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| ٦/٦ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د اوبیزه ایکو سیستم ساتنه او احیا کول د غرونو، ځنګلونو، نمجنو ځمکو، دریابونو، جهیلونو، د اوبو د ورکولو د طبقاتو په شمول. | ٦/٦/١ د وخت په اوږدو کې د اوبو د ایکو سیستمونو په پراخوالي کې بدلون(د بدلونونو سلنه) | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ٦.ب د اوبو او حفظ الصحې د مدیریت د ښه والي په هکله د محلي ټولنو ملاتړ او د ګډون پیاوړي کول. | ٦.ب.١ د اوبو د سرچینو د مدیریت او هراړخیز انکشاف په هکله په پنځو دریايي حوزو کې د شوراګانو سلنه چې د علمي مقرره سره سم وي او د اوبو په مدیریت کې د وګړو ګډون یقیني کړي. | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| اوومه موخه: بنسټیزې، مطمئنې، مډرنې او د ټولو لپاره د توانايي وړ انرژۍ ته د لاسرسي څخه ډاډ حاصلول | | |
| ۷/۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې د بنسټیزې، مطمئنې (reliable)، مډرنې او د ټولو لپاره د توانايي وړ انرژۍ خدمتونو ته د لاسرسي څخه ډاډ حاصلول | ۷/۱/۱ فیصدی نفوس که از طریق شبکه به برق دسترسی دارند. د هغه نفوس سلنه چې د شبکې له لارې برېښنا ته لاسرسی لري په تفکیک د:<br>۱. ښاري<br>۲. کلیوال | وزارت انرژی و آب |
| ۷/۲ تر ۲۰۳۰ کال پورې د انرژۍ په نړیوال ترکیب کې د پام وړ تجدید منونکي انرژۍ (Renewable energy) ته لاسرسی. | ۷/۲/۱ د برېښنا د انرژۍ په عمومي لګښت کې د تجدید منونکي انرژۍ ونډه | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| ۷/۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې د انرژۍ د زیاتوالي د جوړولو د میزان اضافه کول. | ۷/۳/۱ د نا خالص داخلي تولیداتو او د انرژۍ د لومړنیو تولیداتو پر بنسټ د اندازه شوې انرژۍ شدت. | د اوبو او انرژۍ وزارت |

| تارګیټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| | | |
| **۷.ب** تر ۲۰۳۰ کال د ټولو لپاره د بنسټیزې او مدرنې انرژۍ د خدمتونو د عرضه کولو په موخه د انرژۍ د زېربناوو پراخوالی او د تکنالوجۍ لوړول. | **۷.ب.۱** د انرژۍ په اغیزمنتوب کې پانګونه د ناخالص داخلي تولید د سلنې په توګه او د بنسټیز انکشاف د خدمتونو په پار د تکنالوجۍ د زېرېناوو د جوړولو لپاره د بهرنی مستقیمې پانګونې مقدار. | د اوبو او انرژې وزارت |
| اتمه موخه: د ټولو لپاره د بنسټیز او شامل اقتصاد ترویج، بشپړ او مناسب بوختیا | | |
| ۸/۱ د ملي شرایطو سره سم د سرانه اقتصادي ودې دوام او په ځانګړې توګه په کال کې لږ تر لږه د ۷٪ ناخالص داخلي تولید ته لاره موندل. | ۸/۱/۱ میزان رشد سالانه تولید ناخالص داخلی حقیقی. | د مالیې وزارت |
| ۸/۲ تولید ته د تنوع، د فن د لوړوالي او نوښت له طریقه لار موندل له دې جملې څخه د لوړې کچې د زیاتوالي لپاره په ارزښتمنو ځانګو کار کول څو د غوره اقتصاد د رامنځته کولو لپاره د زیاتو د کارمندانو استخدام ته اړتیا وي | ۸/۲/۱ د هر کارګر په سر د حقیقي نا خالص داخلي تولید د ودې میزان. | د اقتصاد وزارت |
| ۸/۳ د داسې پراختیایي پالیسیو ایجاد چې د تولیدي فعالیتونو، د مناسبې کارموندنې ایجاد، او مالي خدمتونو ته لاسرسی د لارې د کوچینو تشبثاتو رسمیت، خلاقیت او نوښت ملاتړ کوي. | ۸,۳,۱ د کرنې له سکتور پرته په نورو سکتورونو کې د غیر رسمي استخدام ونډه په تفکیک د:<br>۱. د دواړو جنسونو مجموع<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| ۸/۵ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د بشپړ او تولید کوونکې بوختیا تامین، او د ټولو ښځینه، نارینه، معلولینو، ځوانانو لپاره د داسې مناسبو دندو پیدا کول چې نبه او د دوی له مسوولیت سره سم مناسبه او عادلانه تنخوا و لري. | ۸/۵/۱ په ساعت واره توګه د کارمندانو د عاید اوسط په تفکیک د:<br>۱. شغل<br>۲. د عمر په اساس ګروپ<br>۳. معلولیت<br>٤. نارینه<br>٥. ښځینه | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| | ۸/۵/۲ د بېکارۍ میزان په تفکیک د:<br>۱. نارینه<br>۲. ښځینه | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| ۸/٦ تر ۲۰۳۰ کال پورې د هغو ځوانانو د پام وړ شمېر کمول چې د کار، ښوونځي یا روزنیزو برنامو ساحې ته شامل شوي نه دي. | ۸/٦/۱ د (۱۵-۲٤) کلونو تر منځ ځوانانو په منځ کې د بېسوادۍ او بېکارۍ میزان:<br>۱. بېسوادي<br>۲. بېکاري | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |

| ټارګيټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| **۸/۷** د جبري کارونو د محو کولو لپاره د بیړنیو او اغیزمنو اقداماتو تر لاس لاندې نیول څو مېږنه غلامي او د انسان قاچاق په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي. همدارنګه له دې څخه ډاډ تر لاسه کول چې د ماشومانو د کار بدترین شکل محو شوی او د سرتېرو په توګه د ماشومانو استخدام پای ته رسېدلی دی. تر ۲۰۲۵ کال پورې د ماشومانو د کار ټول ډولونه ختم شوي دي. | **۸/۷/۱** د ۵-۱۷ کلونو تر منځ د ماشومانو کاریګرو سلنه په تفکیک د عمر د ګروپ:<br>۱. د ۵-۱۱ کلونو تر منځ<br>۲. د ۱۲-۱٤ کلونو تر منځ<br>۳. د ۱۵-۱۷ کلونو تر منځ | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| **۸/۸** د کار د ځواک له حقونو څخه ملاتړ او د ټولو کارګرانو لپاره ډاډمن او له امن څخه ډک کاري چاپېریال رامنځته کول د هغو کارګرانو په شمول د مهاجرو، ښځینه وو او ناتوانه کسانو په شمول. | **۸/۸/۱** د وخیمو او غیر وخیمو کاري ټپونو د پېښو میزان | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| | **۸،۸،۲** د کار د نړیوال سازمان له اساسي کنسوانیونونو سره الحاق | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| | **۸،۸،۳** د هغو اشخاصو (کارګرانو) شمېر چې د منظمو قانوني لارو او د کار د دوه اړخیز تړون (BLAs) په اساس بهرنیو هېوادونو (هغو هېوادونو ته چې د کارګرو غوښتنه یې کړې وي) لېږل کېږي. | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| **۸/۹** تر ۲۰۳۰ کال پورې د بنسټیز ګرځندوی د پراختیا لپاره د پالیسۍ طرح او عملي کول چې د کار د پیدا کولو، د کلتور د ترویج او محلي محصولاتو د پلورلو سبب شي. | **۸/۹/۱** په ناخالص کورني تولید کې د ګرځندوی ونډه. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| | **۸/۹/۲** د بوختیا له مجموعې څخه د ګرځندوی په صنعت کې د کسب د ونډې نسبت په تفکیک د:<br>الف: نارینه<br>ب. ښځینه | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| **۸/۱۰** د بانکوالۍ د پراختیا لپاره د لاسرسي، بیمې او د ټولو لپاره د مالي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د کورنیو مالي بنسټونو د ظرفیت لوړوالي او تقویه کول | **۸/۱۰/۱** د هرو سل زره کسانو لپاره د سوداګریزو بانکونو د څانګو شمېر | دافغانستان بانک |
| | **۸،۱۰،۲** د هغو کسانوشمېر چې (۱۵ کلن وي یا له هغه څخه پورته عمر ولري) او په هرو سل زره کسانو کې د بانکي حسابونو درلودونکي وي. | دافغانستان بانک |
| | **۸،۱۰،۳** د ATM یا د صرافۍ د اتومات ماشینونو زیاتوالی د هرو سل زره کسانو پر سر | د افغانستان بانک |
| **۸.ب** تر ۲۰۲۵ کال پورې، د ځوانانو لپاره د بوختیا د ستراتیجۍ انکشاف او اجرایي ګرځول او د بوختیا لپاره د کار د نړیوال سازمان د تړون تطبیق. | **۸.ب.۱** د ملي بودجې سره په تناسب د ټولنیز خوندیتوب او کارموندنې په برنامو کې د دولت د مجموعي لګښت سلنه | د کار ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| نهمه موخه: د ځواکمنو زېربناوو ایجاد، د اساسي او ټولشمول صنعت پیاوړتیا او د نوښتونو هڅول | | |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| **۹/۱** د ښه کیفیت، اعتماد وړ، بنسټیز او مقاومت درلودونکو زیربناوو ایجاد د هغو زېربناوو په شمول چې له سرحدونو څخه بهر وي څو د اقتصادي پراختیا ملاتړ او بشري هوسایني له ځان سره و لري او هغه ته د ټولو داسې لاسرسي موجود وي چې په توان یې پوره وي. | **۹/۱/۱** د هغه کلیوالي نفوس سلنه چې د یو عمومي سړک په ۲ کیلومتری کې قرار و لري. | د کلیو د احیا او پراختیا وزارت |
| **۹/۲** تر ۲۰۳۰ کال پورې، د بنسټیز او ټولشمول صنعت تشویق، په ناخالص داخلي تولید او استخدام کې د صنعت د پراخې ونډې داسې زیاتوالي چې د هېواد ملي وضعیت سره سمون و لري او د صنعت ونډه دوه برابره کړي. | **۹/۲/۱** د صناعتي فابریکو د تولیداتو ارزښت (Manufacturing value added) په تناسب د:<br>الف. نا خالص داخلي تولیدات<br>ب. سرانه (Per Capita) | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| | **۹/۲/۲** د مجموع اشتغال په نسبت د صنعت د بوختیا سلنه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| **۹/۳** په هېواد کې په ارزانه ربح سره کوچنیو صایعو، کسبونو او کارونو ته د لاسرسي زیاتوالی او ارزښت له ځنځیر او مارکېټونو سره د هغه یو ځای کېدل | **۹/۳/۱** د ټولو صایعو په زیات شوي ارزښت د کوچنیو صنایعو سلنه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| | **۹/۳/۲** په پور سره د کوچنیو صنایعو سلنه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| **۹.الف** په هېواد کې د مالي، تکنالوجي او فني ملاتړ د زیاتوالي له لارې د بنسټیز انکشاف او مقاومت درلودونکو زېربناوو آسانه کول. | **۹.الف۱** زیربنا. د زېربناوو د سکټور لپاره د رسمي نړیوالو مرستو سلنه | د مالیې وزارت |
| **۹.ج** تر ۲۰۳۰ کال پورې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجي ته د پام وړ لاسرسي او د داسې انټرنټ آسانتیاوو ته لاسرسي چې بیه یې ډېره لوړه نه وي. | **۹.ج۱** د هغه نفوس سلنه چې د مبایل لېږدونکي تلفون لري په تفکیک د:<br>۱. تکنالوژي | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت |
| لسمه موخه: په ملي او نړیواله کچه د نابرابرۍ کموالی | | |
| **۱۰/۱** تر ۲۰۳۰ کال پورې په ملي سطح د عاید د لوړ میزان اوسط کچې ته په تدریجي او بنسټیزه توګه د ۲۵٪ سلنه هغه نفوس رسول چې لږ عاید لري | ۱۰،۱،۱<br>الف. د سرانه عاید وده<br>ب. د ۲۵٪ نفوس په کمترینه اندازه کې د عاید وده. | د اقتصاد وزارت |
| **۱۰/٤** د مختلفو پالیسیو په ځانګړې توګه د مالي، اجرې، ټولنیز خوندیتوب پالیسیو تدوین په پام کې نیول او عملي کول او په تدریجي توګه مساویانه تقسیم ته لاسرسی | **۱۰/٤/۱** د کار د ګډون میزان په تفکیک د:<br>۱. نارینه<br>۲. ښځینه | وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین |

| تاړگیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| ۱۰.د منظمو، ډاډمنو او مصؤونو مهاجرتونو آسانه کول، او د مهاجرت د منظمو او مدیریت شوو پالیسیو له لارې د کډوالو لېږد را لېږد. | ۱۰/۷/۱ د هغو مهاجرینو سلنه چې په کوربه هېوادونو کې راجستر دي او د هستوګنې لپاره د اقامت اسناد په لاس کې لري:<br>۱. پاکستان<br>۲. ایران | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| | ۱۰/۷/۲ د هغو بېرته راستنېدونکو شمېر چې د راستنېدو پر مهال د بشردوستانه مرستو څخه په یو کال کې ګټه اخلي. | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| | ۱۰,۷,۳ په هر کال کې د بېځایه شوو کورنیو د بنسټیز استقرار او ځای پر ځای کېدو شمېر. | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| | ۱۰,۷,٤ د مهاجرینو د هغو ښارګوټو سلنه چې په اساسي او زیربنایي خدمتونو سمبال کېږي. | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| | ۱۰/۷/۵. د هغو بېځایه شوو او راستانه شوو کسانو سلنه چې د شغلي او معیشتي فرصتونو څخه برخمن شوي وي. | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| ۱۰.ج تر ۲۰۳۰ کال پورې، یوازې ۳٪ سلنې ته د مهاجرینو د تادیاتو را کمول او په تادیاتو کې د هغو دهلېزونو حذف کول چې له ۵ سلنې څخه زیات وي. | ۱۰.ج حواله شوي ملبغ مجموعې ته په کتنې سره د حوالې د لېږلو د لګښت سلنه | د راستنېدونکو او مهاجرینو چارو وزارت |
| یوولسمه موخه: د ټولشمولو مصئونو، مقاومت لرونکو او بنسټیزو ښارونو او ښارګوټو جوړول | | |
| ۱۱/۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې له دې څخه ډاډ حاصلول چې مناسب، ډاډمن، د توانایي وړ او لومړنیو خدمتونو درلودونکي هستوګنځي ته لاسرسي عام شکل غوره کړي او د فقیر میشته ساحو کې ښه والی راغلی دی. | ۱۱/۱/۱ د هغه هستوګنځي نفوس نسبت چې په غیر پلاني سیمه او نا مناسب شکل ژوند کوي. | د ښار جوړولو او مسکن وزارت |
| ۱۱/۲ تر ۲۰۳۰، پورې د ټولو لپاره د لېږد را لېږد مصؤن، ارزان، بنسټیز او د ډاډ وړ سیستم رامنځته کول. د سړکونو د خوندیتوب ښه کول او په ځانګړې توګه د عامه انتقالاتو پراخوالی په داسې توګه چې زیان منونکو، ښځینه وو، ماشومانو، معلولینو او عمر خوړلو کسانو اړتیاوو ته پاملرنه پکې شوې وي. | ۱۱/۲/۱ د وګړو د هغې مجموعي نسبت چې عامه (دولتي) ترانسپورت خدمتونو ته لاسرسی لري. | د ترانسپورت او ملکي هوا نوردۍ وزارت |
| ۱۱/۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې په ټولشموله او بنسټیزه توګه په ښاري سیمو کې د وګړو میشت کول او په داسې توګه په هېواد کې د ښارګوټو د جوړولو د ظرفیت لوړول چې ښه مدیریت شوې وي، بنسټیزه او مشارکتي بڼه و لري. | ۱۱/۳/۲ د هغو ښارونو سلنه چې د هغه په برنامه کې د مدني ټولنې جوړښت لاس و لري او د هغه مدیریت په منظم او دیموکراتیک شکل صورت مونډلی وي. | د ښار جوړولو او مسکن وزارت |
| ۱۱/٤ د طبیعي او فرهنګي میراثونو د ساتنې او خوندیتوب لپاره د هڅو زیاتوالی | ۱۱/٤/۱ د ملي بودجې هغه سهم چې د طبیعي او کلتوري میراثونو او همدارنګه د نړیوال میراث سایټونو ته اختصاص ورکړل شوی دی. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| **۱۱/۵** تر ۲۰۳۰ کال پورې، د متضررینو په مرینه کې د پام وړ کموالی راوستل، او په ناخالص تولید د هغو اړوندو مستقیمو زیانونو کمول چې د ناوړه اوبیزو او داسې نورو پېښو څخه رامنځته کېږي او د بېوزله او زیان منونکو څخه په ملاتړ تمرکز کول. | **۱۱/۵/۱** په هرو سل زره کسانو کې د وژل شوو، بېځایه شوو، ورک شوو او په پېښو کې د متضررینو کسانوشمېر په تفکیک د<br>۱. مړینه<br>۲. بېځایه کېدل او ورکېدل<br>۳. متضررین | له پېښو سره د مبارزې اداره |
| **۱۱،٦** تر ۲۰۳۰ کال پورې، په ښارونو کې د چاپېریال د نامطلوبو اغیزو کمول، د هوا څرنګوالي، د ښاروالۍ مدیریت او د چټلیو پاکوالي ته ځانګړې پاملرنه کول. | **۱۱/٦/۱** د ټولو تولید شوو کثافاتو څخه د ښاري کثافاتو مېزان:<br>الف. چې په منظمه توګه را ټول شوي وي<br>ب. د راټولېدو وروسته په نهایي توګه تخلیه شوي وي | کابل ښاروالي |
| | **۱۱/٦/۲** د په ښارونو کې د معلقو ذراتو کلنۍ اوسط(د مثال په ډول PM ۲،۵ او PM۱۰). | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| **۱۱/۷** تر ۲۰۳۰ کال پورې، عامه محلاتو او پارکونو ته د ټولو د لاسرسی آسانتیا رامنځته کول په داسې توګه چې ډاډمن، ټولشموله، زرغونه او د لاسرسي وړ وي. په دې برخه کې ښځو، ماشومانو، عمر خوړلو او معلولو طبقاتو ته ځانګړې پاملرنه کول. | **۱۱/۷/۲** تعداد افرادیکه مورد آزار و اذیت فزیکی یا جنسی در ۱۲ ماه گذشته قرار گرفته باشند. د هغو کسانوشمېر چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې له فزیکي یا جنسي آزار سره مخ شوي وي په تفکیک د:<br>۱. د دواړو جنسونو مجموع<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د کورنیو چارو وزارت |
| **۱۱.الف** د ملي او سیمه ییز انکشاف د برنامو د تقویت له لارې د ښارونو، د ښارونو د څنډو، او کلیوالي سیمو تر منځ د مثبتو اقتصادي، ټولنیزو او چاپېریال ساتنې د اړیکو ملاتړ کول. | **۱۱.الف۱** په هغو ښارونو کې د مېشت شوي نفوس نسبت چې په هغه کې ښاري او سیمه ییز پلانونه د د پېشبیني شوي نفوس د اړتیاوو پر بنسټ سرچینو او پراخوالي په نظر کې نیولو سره سم تطبیق کېږي. | د ښار جوړولو او مسکن وزارت |
| **۱۱.ب** تر ۲۰۳۰ کال پورې د داسې ښارونو او ښارګوټو د اعمار په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راوستل چې د متحد پلان او پالیسی له مخې جوړ شوي وي، د سرچینو موثره لاسته راوړنه و لري، د اقلیمي بدلولونو سره عیار او د طبیعي پېښو په وړاندې مقاومت و لري.<br>داسي انکشاف ورکړل شوي وي چې د پېښو د مدیریت چوکاټ یې د " Sendai په سیستم برابر وي او ۲۰۱۵-۲۰۳۰" کلونو پورې د پېښو په وړاندې مقاومت لري.. | **۱۱.ب.۱** د هغو سیمه ییزو ادارو سلنه چې په هغه کې د خطرونو د کموالي ستراتیژۍ د (Sendai) د چوکاټ سره سم منل شوې او تطبیق کېږي. | له پېښو سره د مبارزې اداره |
| دولسمه موخه: د بنسټیز تولید او لګښت د مېتودونو څخه ډاډ حاصلول | | |

| ټارګېټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| ۱۲/۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې تر ۵۰٪ سلنه پورې به د هغو سرانه غذايي موادو په ضایعاتو کې کموالی صورت مومي چې د عرضه کوونکي او مصرف کوونکي تر منځ په مختلفو سطحو کې واقع کېږي او همدارنګه د تولید په ځنځیره یې اوږدوالي کې به هم د غذايي موادو په ضایعاتو کې کموالی راځي. | **۱۲/۳/۱** فیصدی ضایعات گندم و برنج درجریان تولید در سال. په کال کې د وریجو او غنمو د تولید د ضایعاتو سلنه په تفکیک د:<br>الف. غنم<br>ب. وریجې | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۱۲/٤ تر ۲۰۳۰ کال پورې به، د کیمیاوي موادو او کثافاتو لپاره به داسې مناسب مدیریت منځته راځي چې د نړیوال تړون په چوکاټ کې پرې موافقه شوې ده. همدارنګه اوبو، هوا، خاورې، ځمکې د انسانانو روغتیا او د ژوند چاپېریال ته به د هغه د نامطلوبو اغیزو د کموالي لپاره هڅې کېږي. | **۱۲/٤/۱** د ژوند د چاپېریال لپاره د خو اړخیزو شپږو نړیوالو تړونونو د عملي کولو لپاره د ملي عمل پلان ایجادول او تطبیق کول. دغه نړیوالو پلانونه عبارت دي له د ستاکهلم، ویانا، میناماتا، باسیل، روتردام او منترپال له کنسوانسیونونو څخه چې د کیمیاوي او خطرناکو موادو په هکله دي او د دې تړونونو د تطبیق په وړاندې د افغانستان د مسوولیتونو او پلانونو په هکله د اړتیا وړ او لازم اطلاعات برابرول. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ۱۲/٦ د داخلي او بهرنیو شرکتونو هڅول څو د بنسټیز تولید مېتودونه و کاروي او په خپلو ګزارشونو کې یې توحید کړي. | **۱۲/٦/۱** د هغو شرکتونو شمېر چې د ګزارش د بنستیز انتشار مسوولیت اخلي. | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| **۱۲.الف** د بنسټیز تولید او لګښت د مېتودونو د تطبیق لپاره د پرمختللو هېوادونو د مرستو جلب او د هغوی ملاتړ حاصلول څو په دې برخه کې علمي او تکنالوجيکي ظرفیتونه لوړ او ځواکمن شي. | **۱۲.الف۱.** ځان بسیاني ته د رسېدو، د داخلي تولیداتو د ياتوالي، پاکې انرژۍ، د چاپېریال پاک ساتلو څخه د حفاظت په منظو د علمي تحقیقاتو سر ته رسول. | د علومو اکاډمي |
| **۱۲.ب** د داسې اسبابو او لارو چارو انکشاف او تطبیق چې د ګرځندوی د بنسټیزو فعالیتونو څخه څارنه وکړي چې د سیمه ییزو محصولاتو او کلتور د ترویج سبب شي. | **۱۲.ب۱.** د بنستیز ګرځندوی لپاره د هغو پالیسیو او ستراتیژیو شمېر چې له ځان سره تطبیقي پلانونه او د څارنې وسایل هم و لري. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| دريارلسمه موخه: د اقلیمي بدلونونو او د هغه د اغیزو سره د مبارزې په موخه د بیړنیو اقداماتو سر ته رسول | | |
| ۱۳/۱ د اقلیمي خطرونو او طبیعي پېښو په مقابل کې د داسې ظرفیتونو ځواکمن کول چې انعطاف منونکي او پیاوړي وي. | **۱۳/۱/۱** د ولسوالیو او کلیو په کچه د خطرونو او طبیعي پېښو د کموالي د ستراتیژیو د انکشاف سلنه. | له پېښو سره د چمتوالي او مبارزې ملي اداره |
| ۱۳/۲ په ملي پالیسیو او ستراتیجیو کې د اقلیم د بدلون په هکله د اقداماتو شمولیت او ادغام | **۱۳/۲/۱** د پرمختګ هغه سلنه چې په دې برخه کې د ستراتیژیو او پالیسیو د علمي کولو په پایله کې یې د افغانستان د ځواکمنتیا سره سره مرسته کړې ده چې د ناولو اوبو او هوا د بدلون په سبب د نامطلوبو اثراتو سره موثره مبارزه وکړي. همدارنګه ګلخانه يي ګازونه يې په داسې ډول کم کړي چې غذايي تولید ته زیان و نه رسوي. (د NAP د ملي جوړښت د برنامې، د NDC مشارکتي ونډې NC د ملي ګزارشونو، د BUR دوه کلنو تجدید شوو ګزارشونو او داسې نورو په شمول). | له پېښو سره د چمتوالي او مبارزې ملي اداره |

| ټارگیټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| پنځلسمه موخه: د ایکو ځمکي سیستمونو حفاظت، بیارغونه او بنسټیزه استفاده، د ځنګلونو اساسي مدیریت، د ځمکي له صحرایي کېدو سره مبارزه، د ځمکي د تخریب درول او د ژوند د تنوع د ضایعاتو مخنیوی | | |
| ۱۵/۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د ځمکې پر سر او تر ځمکه لاندې د خوږو اوبو د ایکو سیستمونو او د هغه له خدمتونو څخه د ساتنې، احیا او ښوره استفادې څخه د ډاډ حصول. په ځانګړې توګه ځنګلونه، مرطوبې ساحې، غرونه، وچې ځمکې او داسې نور باید د نړیوالو تړونونو او ژمنو سره سم و ساتل شي. | ۱۵/۱/۱ د هېواد د ټولې ځمکې په پرتله د ځنګلونو د مساحت تناسب. | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| ۱۵/۲ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د ځنګلونو د انواعو څخه ساتنه او د بهبود لپاره یې د ښه مدیریت تطبیق، د ځنګلونو د پرې کولو پروسې ته خاتمه ورکول او د ځنګلونو بیا احیا کول او انکشاف. | ۱۵/۲/۱ تر بنسټیز مدیریت لاندې د ځنګلونو د پوښښ سلنه | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| ۱۵/۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د ځمکې د صحرایې کېدو په وړاندې مبارزه، د تخریب شوې ځمکې بېرته جوړول او احیا د هغو ځمکو په شمول چې د وچکالې یا سیلابونو له کبله اغېزمنه شوې وي او داسې نړۍ ته د رسېدو هڅه کول چې هېڅ ډول تخریب شوې ځمکه هلته شتون و نه لري. | ۱۵/۳/۱ د ځمکې د هغو ساحو مساحت چې تحکیماتو ته اړتیا لري( د سیلابونو په وسیله د ځمکې مساحت د ټولې ځمکې په پرتله چې د دریابونو، اوبیزه مجراوو او داسې نورو ساحاتو کې واقع وي او ساختماني تدابیرو ته اړتیا لري) | د اوبو او انرژی وزارت |
| ۱۵/٤ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د غرونو د ایکو سیستم له ساتنې څخه ډاډ تر لاسه کول د ژوند د تنوع په شمول څو د هغه ظرفیت لوړ شي او د بنسټیز انکشاف د تحقیق لازمي ګټې ځرګندې کړي. | ۱۵/٤/۱ د هغو ساحاتو سلنه چې د ژوند مهم غرني تنوع پکې وي او د حفاظت شوو سیمو تر پوښښ او عنوان لاندې راځي. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ۱۵/۵ د طبیعي هستوګنځیو د تخریباتو په وړاندې د بېړنیو اقداماتو سر ته رسول څو مخه یې و نیول شي، د ژوند د تنوع له ضایعاتو څخه مخنیوی او تر ۲۰۳۰ کال پورې د هغو بوټو او حیواناتو د ضایع کېدو مخنیوی چې د ورکېدو له خطر سره مخ دي. | ۱۵/۵/۱ د سره لېست شاخص (د هغو انواعو لېست چې له طبیعت څخه د ساتنې د نړیوالې اتحادیې IUCN د معیارونو مطابق وي) | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ۱۵/۷ د غیر قانوني ښکار، د ساتل شوو ځارویو او بوټو د قاچاق او د وحشي ژوو د غوښتنې او عرضې څخه مخنیوی او په دې هکله د بېړنیو اقداماتو سر ته رسول | ۱۵/۷/۱ د هغو وحشي ژوو او محصولاتو د سوداګرۍ تناسب چې په غیر قانوني توګه ښکار او قاچاق شوي دي. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ۱۵/۸ تر ۲۰۲۵ کال پورې داسې بېړنې اقدامات کول چې د ځمکې په وړاندې د ناسمو بریدونو مخنیوی و شي او د ځمکې پر مخ د اوبو د ایکو سیستمونو پر مخ د هغه د تاثیراتو اندازه کمه شي. | ۱۵/۸/۱ د پردیو د مختلفو انواعو بریدونو او تهاجم څخه د کنټرول او مخنیوي په موخه د ملي قوانینو تصویب. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| ۱۵/۹ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د فقر د لړوالې په ستراتیژۍ، پراختیایې پروسه، ملي او محلي پلانونو کې د ژوند د تنوع او یکوسیستم د ارزښتو شاملول او ادغام. | ۱۵/۹/۱ له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۲۰ کال پورې د تعین شوو ملي موخو په طرف وړاندې تګ څو د ژوند د تنوع ستراتیجیک پلان علمي شي. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| **۱۵.الف** د ایکوسیستم او د ژوند د تنوع د بنسټیزې استفاده د ساتنې په موخه د مالي سرچینو زیاتوالي او تنظیم. | **۱۵.الف.۱** د ایکو سیستمونو او د ژوند د بنسټیز تنوع څخه د ګټې اخیستنې په پار د عامه پراختیایي مرستوو او لګښتونو د مرستو ونډه. | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| شپاړسمه موخه: د بنسټیزې پراختیا لپاره د سوله پالو او ټولشموله ټولنو ترویج، د ټولو لپاره عدالت ته د لاسرسي ایجاد او په ټولو سطحو کې د موثرو او حساب ورکوونکو نهادونو تشکیل، | | |
| **۱٦/۱** په ټولو ځایونو کې او په ټولو اشکالو د تاوتریخوالي او د هغه د اړوندو مړینو د پام وړ کموالی | **۱٦/۱/۲** په هرو سل زره کسانو کې د جنګ له کبله د مرګ ژوبلې سلنه:<br>۰۱ د پېژندل شوو او خبن شوو ماینونو له کبله<br>۰۲ د فشاري پلېټ سره یو ځای د شیندل شوو انفجاري موادو له کبله<br>۰۳ د جګړې د پاتې شوو مهماتو له کبله | له پېښو سره د چمتوالي او مبارزې ملي اداره |
| | **۱٦/۱/۵** د هغې ځمکې سلنه چې له ماینونو او چاودېدونکو توکو څخه پاکه شوې وي | له پېښو سره د چمتوالي او مبارزې ملي اداره |
| **۱٦/۲** د ماشومانو په وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي له منځه وړل لکه سؤ استفاده، قاچاق، استثمار او ځورول. | **۱٦/۲/۱** د هغو ماشومانو نسبت چې د ۱-۱۷ کلونو تر منځ عمرونه و لري چې په تېره میاشت کې له څارونکې فزیکي یا رواني تاوتریخوالي سره مخ شوي وي. | د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| | **۱٦/۲/۲** په هرو ۱۰۰ سل زره انسانانو په ټولې کې د قاچاق د قربانیانو شمېر په تفکیک د.<br>۰۱ دواړه جنسیتونه<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د عدلیې وزارت |
| **۱٦/۳** په ملي او نړیواله کچه د قانوند حاکمیت د سطح لوړوالي او عدالت ته د ټولو د لاسرسي څخه د ډاډ حاصلول. | **۱٦/۳/۱** د هغو کسانوشمېر چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې د فزیکي، رواني یا جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي وي او اړوندو ارګانونو ته یې مراجعه کړې وي په تفکیک د:<br>۰۱ دواړه جنیستونه<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د کورنیو چارو وزارت |
| | **۱٦/۳/۲** د ټولو زندانیانو له جملې څخه د بې برخلیکه زندانیانو نسبت په تفکیک د:<br>۰۱ د دواړو جنسیتونو مجموع<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | د کورنیو چارو وزارت |
| | **۱٦/۳/۳** عدالت ته د لاسرسي په موخه د هغو کساو شمېر چې د حقوقي مرستو څخه یې استفاده کړې وي. | د عدلیې وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| ۱۶/٤ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د هغو غیر قانونيې، مالي او وسله والو جریانونو په شمېر کې د پام وړ کموالی، د غلا شوو پانګو بېرته حصول او استرجاع او د ټولو سازمان شوو جرايمو په وړاندې مبارزه، | ۱٦/٤/۱ د هېواد په داخل او بهر کې د غیرقانوني پیسو ارزښت | د کورنیو چارو وزارت |
| | ۱٦/٤/۲ د هغو کوچنیو وسلو نسبت چې کشف او ضبط شوې او د نړیوالو نورمونو او قانون له مخې یې څارنه شوې وي. | د کورنیو چارو وزارت |
| ۱٦/۵ د رشوت او اداري فساد په ټولو اشکالو کې د پام وړ کموالی راوستل | ۱٦/۵/۱ د هغو اشخاصو نسبت چې لږ تر لږه له یو رسمي کارمند سره په اړیکه کې وي او د تېر کال په جریان کې یې یو دولتي کارمند ته رشوت ورکړې وي یا ورځخه رشوت غوښتل شوې وي په تفکیک د:<br>۱. مجموع<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه | لوی څارنوالي |
| | ۱٦/۵/۳ د هېواد د نافذه قوانینو د پیشبینۍ له مخې د دولت د لوړ پوړو چارواکو د پانګې د ثبت، تدقیق او ارزونې سلنه. | د چارو اداره |
| ۱٦/۸ د نړیوالې حکومتولې په بنسټونو کې په پراخه او ځواکمنه توګه د افغانستان د ګډون پراخوالی | ۱٦/۸/۱ په نړیوالو بنسټونو کې د افغانستان د رایې ورکولو حق او د غړیتوب نسبت په تفکیک د:<br>۱. نړیوال بنسټونه | د کورنیو چارو وزارت |
| ۱٦/۹ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د زیږېدلو د نېټې د ثبت بڼه شمول د ټولو لپاره د قانوني او حقوقي هویت تهیه کول | ۱٦/۹/۱ د ثبت شوو زېږونونو شمېر. | د نفوسو د ثبت او احوال ملي اداره |
| ۱٦/۱۰. اطلاعاتو ته د عامو وګړو د لاسرسي څخه ډاډ حاصلول، د ملي قوانینو او نړیوالو تړونونو سره سم د اساسي آزادیو څخه ملاتړ. | ۱٦/۱۰/۱ په تېرو ۱۲ میاشتو کې د ژورنالېستانو، د خبري رسنیو د کارمندانو، د سوداګرو او د بشر د حقوقو د اتحادیو د غړو د قتل، برمته کولو، اجباري ورکېدو، په خپل سر نیولو او ځورولو د پېښو شمېر. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| | ۱٦/۱۰/۲ د هغو قوانینو، مقررو او پالیسیو شمېر چې اطلاعاتو ته عمومي لاسرسی تضمین کوي، کار ورځخه اخیستل شوی او تطبیق شوي دي. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| **۱٦.الف** د نړیوالو همکاریو په وسیله په ټولو سطحو کې د ظرفیتونو د لوړوالي په شمول د ملي بنسټونو ځواکمنتیا ، څو له تاوتریخوالي څخه مخنیوی شوی وي، د ترهګرۍ او منظم جرمونو په وړاندې مبارزه شوې وي | **۱٦.الف.۱** د پاریس د پېژندلو شوو قواعدو سره سم د بشري حقوقو د خپلواکو بنسټونو موجودیت. | د کورنیو چارو وزارت |
| اوولسمه موخه: د بنسټیز انکشاف لپاره د تطبیقي وسایلو پیاوړتیا، او د نړیوال مشارکت احیا کول | | |
| ۱۷/۱ د مالیاتو او عوایدو د راټولولو په برخه کې د نړیوال ملاتړ او داخلي ظرفیت د لوړوالي څخه په استفاده سره د داخلي سرچینو پیاوړتیا او منظم کول. | ۱۷/۱/۱ پر ناخالص تولید باندې د داخلي عوایدو نسبت | د مالیې وزارت |
| | ۱۷/۱/۲ له ملي عوایدو څخه د ملي بودجې د تمویل تناسب | د مالیې وزارت |
| ۱۷/۳ له مختلفو سرچینو څخه د هېواد لپاره د زیاتو مالي منابعو تنظیمول | ۱۷/۳/۱ د ناخالصو داخلي تولیداتو څخه د مستقیمې بهرنۍ پانګونې ونډه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| **۱۷/٦** د ساینسي علومو، ټکنالوجۍ، نوښتونو او د متقابلو توافق شوو شرایطو په اساس د معلوماتو شریکولو په موخه د شمال جنوب، جنوب شمال د درې اړخیزه همکاریو زیاتوالی. همدارنګه په موجوده میکانیزمونو کې د غوره همغږۍ په شمول ځو په نړیواله کچه د نړیوالې ټکنالجۍ میکانیزمونه آسانه کړي. | **۱۷/٦/۲** په هرو سل نفرو هستوګنو کې د ثابت انټرنټ د ګډونوالو سلنه په تفکیک د:<br>۱. سرعت | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت |
| **۱۷/۸** تر ۲۰۳۰ کال پورې  د ټکنالوجۍ او ساینس د بانک فعال کول او د هغو ظرفیتونو جوړول چې له معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ څخه د استفادې وړتیا لوړوي. | **۱۷/۸/۱** د هغه نفوس نسبت چې له انټرنټ څخه ګټه اخلي | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت |
| **۱۷/۱۱** تر ۲۰۳۰ کال پورې د نړیوالو صادراتو په ډګر کې د هیواد د صادراتو د کچې لوړول او د افغانستان د صادراتو د ونډې دوه برابره کول. | **۱۷/۱۱/۱** د نړیوال د ټولو صادراتو په مجموعه کې د افغانستان د صادراتو ونډه | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت |
| **۱۷/۱۳** د پالیسو د همغږي کولو او نظم په وسیله د ملي اقتصاد ځواکمن کول | **۱۷/۱۳/۱** ناخالص داخلي تولید  (ملیارډ امریکایي ډالر) | د مالیې وزارت |
| **۱۷/۱۷** د ستراتیجیک ګډون د تجربو او سرچینو څخه په استفادې سره د عامه، عامه ـ خصوصي او مدني مشارکت هڅول او بهتره کول. | **۱۷/۱۷/۱** د هغو پیسو مقدار چې عامه او خصوصي مشارکت ته تخصیص شوي دي (میلیون امریکایي ډالر) | د مالیې وزارت |
| **۱۷/۱۸** تر ۲۰۲۰ کال پورې، د ظرفیتونو د لوړولو د ملاتړ د پروسې ګړندي کول ځو په ټولو برخو کې له کیفیت، ډاډ او موقع سره سم مثبتې شمېرې لوړې شي لکه عاید، جنسیت، عمر، نژاد، قومیت، د مهاجرینو وضعیت، معلولیت، جغرافیایي موقعیت او داسې نور چې له ملي خصوصیت سره تړاو و لري. | **۱۷/۱۸/۱** د هغو شاخصونو نسبت چې د جریباتو په تفکیک سره په ملي کچه تولید شوي، له مقاصدو سره سر لګوي او د رسمي احصاییو د اساسي پرنسیبونو سره سم په احصاییوي شمېرو کې شامل شوي دي. | د احصایې او معلوماتو ملي اداره |
| | **۱۷/۱۸/۲** د هغو هېوادونو شمېر چې د ملي احصاییې قانون یې د احصایې په اساسي او رسمي پرنسیپونو کې شامل دی | د احصایې او معلوماتو ملي اداره |
| **۱۷/۱۹** تر ۲۰۳۰ کال پورې د هغو موجودو نوښتونو ځواکمنتیا چې د بنسټیز انکشاف پراختیا اندازه کړي او مخ پر وده هېوادونو کې د ناخالص داخلي تولید لپاره متمم وي او د ظرفیتونو د لوړولو ملاتړ وکړي. | **۱۷/۱۹/۱** د هغو ټولو سرچینو ډالري ارزښت چې مخ پر وده هېوادونو کې د ظرفیت د لوړوالي لپاره تخصیص ورکړل شوې دي. | د احصایې او معلوماتو ملي اداره |
| | **۱۷/۱۹/۲** د هغو هېوادونو نسبت (الف) چې په تېرو لسو کلونو کې یې د نفوس او هستوګنې سرشمارې شوې وي (ب) ۱۰۰ سلنه د زېږون او ۸۰ سلنه د وفیاتو ثبت و لري. | د احصایې او معلوماتو ملي اداره |

# سرچینې او مأخذونه


- دافغانستان دخلکو د ژوندانه دوضیعت سروی /2017-ALCs دملی احصائی اومعلوماتی اداره
- دافغانستان دملی اولویتونو دبرنامو لندیز NPPs – دمالي وزارت دسمبر ۲۰۱۶
- دولایتی بودجی پروفایل – دولایتی بودجه جوړولوی ریاست – دمالي وزارت ۱۳۹۷ کال
- داقتصادی ودی په موخه دولایتونو زراعتی طرحی او دولایتونو موجوده بلقوه ظرفیتونه – داقتصاد وزارت ۱۳۹۷ کال
- د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي جوړښت ANPDF – دمالي وزارت او داقتصاد وزارت ۱۳۹۵-۱۴۰۰
- په ملی کچه داحصاییوی مهمو شاخصونوپیژنده - داقتصاد وزارت ۱۳۹۷
- د افغانستان د پایښت پرمختیا موخې A-SDGs - داقتصاد وزارت ۲۰۱۵ -۲۰۳۰


## دولایت په کچه :

- د کرهنې مالداری او اوبو لګولو ریاست
- اقتصاد او خصوصی سکتور
- احصایی ریاست
- اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
- بریښنا او انرژی ریاست
- دولتی پوهنتون ریاست
- خصوصی پوهنتونونو ریاستونه
- مستوفیت ریاست
- صنعت او سوداګری ریاست
- عدلی ریاست
- مخابراتو او تیکنالوژی ریاست
- کار ټولنیزو چارو او معلولینو او شهیدانو ریاست
- کوچیانو ریاست
- ورزشی امریت
- ښځو چارو ریاست
- کانونو او معدن ریاست
- سوداګری او صنایعو خونه
- ګمرک ریاست
- دافغانستان بانک ریاست
- کلیو او پراختیا ریاست
- طبیعی پیښو پروړاندی دمبارزی ریاست
- ارشاد حج او اوقافو ریاست

USAID
از طرف مردم امریکا
د امریکا د ولس لخوا

Development and printing of this Provincial Socio-Economic Profile is made possible through the support of USAID Initiative to Strengthen Local Administrations and in partnership with the Ministry of Economy. Contents of this documents are the sole responsibility of Government Islamic Republic of Afghanistan and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

تهیه و چاپ این رُخنامۀ اجتماعی-اقتصادی ولایتی با حمایت مالی و تخنیکی برنامۀ ابتکار تقویت ادارات محلی – اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده آمریکا (**USAID**) و در مشارکت به وزارت اقتصاد جمهوری اسلامی افغانستان صورت گرفته است. مسوولیت محتویات سند هذا از آن دولت جمهوری اسلامی افغانستان می باشد و دیدگاه ادارات انکشاف بین المللی آمریکا و دولت این کشور را منعکس نمی سازد.

**وزارت اقتصاد**

**آدرس:** چهارراهی انصاری، شهرنو، کابل افغانستان

**ایمیل آدرس:** info@moec.gov.af

**شماره تماس:** ۰۷۵۲۱۱۶۰۷۵



نورستان
غازی‌آباد
ناری
کنر
بَرکُنر
شیگل و شِلتَن
دانگام
وَته‌پور
دره‌پیچ
چپه‌دره
لغمان
اسعدآباد
مَرَوَره
نَرَنگ
ثوکی
سرکانی
پاکستان
نورگل
خاص‌کُنر
ننگرهار




د کونړونو ولایت د اقتصاد ریاست

کونړونو ولایتي پروفایل

وری ۱۳۹۸